

# د پښتو د نوي ادب لارې

لیکوال

پوهاند عبدالحی حبیبی

ترلاسه کولو ځای

میهن خپرندویه ټولنه

ناصر باغ روډ اول نمبر کوڅه، اول نمبر دوکان 0300-5981425

0321-9895621

# د پښتو د نوي ادب لاري

لیکوال

پوهاند عبد الحی حبیبي

د تر لاسه کولو ځاي:
میهن خپرندویه ټولنه.
بورډ ناصر باغ روډ اوله کوڅه اول دوکان

بسم الله الرحمن الرحيم

## دکتاب پیژندنه:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د پښتو د نوي ادب لاري |
| لیکوال : | پوهاند عبد الحی حبیبی |
| خپرونکی: | میهن خپرندویه ټولنه |
| د خپریدو کال: | ۱۲۸۶ المریز ۲۰۰۷ |
| د چاپ شمیر: | ۲۰۰۰ ټوکه |
| د ترلاسه کولو ځاي: | بورډ ناصر باغ روډ اوله کوڅه اول دوکان |
| موبایل: | ۰۳۲۱۹۸۹۵۲۲۱ |

# د خپروندوې ټولنې يادښت

درنو لوستونکو!

د میهن خپرندویه ټولنه چې په (۱۳۸۰) لمریز کال د هجرت په چاپیریال (پېښور) کې د افغاني فرهنګ او ادب د خپراوي په ډګر کې خپلو هیواد والو ته د فرهنګي خدمت د سرته رسولو په هیله او تکل رامینځته شوې او د تاسیس له نیټې څخه تر اوسه یې په لس ګونو ټوکه علمي، ادبي، تعلیمي او تدریسي آثار د هیواد په رسمي ژبو (پښتو او دري) په ډېره ښکلې بڼه او صحافت په مناسبه بیه خپلو هیوادوالو د علم، پوهې او ادب مینه والو ته وړاندې کړي دي.

ویاړي چې دا ځل د هیواد د نومیالي ادیب لیکوال، څیړونکي او مؤرخ د پښتو د ادب د اسمان د ځلانده ستوري اروانښاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي یو ډېر ارزښتمن او نایاب ادبي اثر (د پښتو د نوي ادبي لارې) چاپ، دادب او مطالعې مینه والو ته وړاندې کوي د یادونې وړده چې د اروانښاد استاد دغه ارزښتمن اثر لومړی د مقالو په بڼه د کابل مجلې په پرله پسې ګڼو کې خپرې شوي او بیا د همدغې مجلې د مدیریت له خوا په ۱۳۲۳ لمریز کال د سلو (۱۰۰) ټوکو په شمیر چاپ خپور شوی دی.

دا چې دغه کوچنی خو په معنوی لحاظ ډېر ستر او ارزښتمن اثر اوس ډېر نه موندل کیږي د پښتو ادب مینه وال او څیړونکي په ځانګړي توګه د ادبیاتو د پوهنځیو زده کړیالان (محصلین) د دغه اثر

تر لاسه کولو ته ډیر لیوال او ورپسې لالهند وو ، د میهن خپرندویه ټولنې د هماغه پخوانۍ نسخې له مخې په پېښور کې په نوې بڼه او صحافت او د اثر د لیکوال اروابښاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي د ژوند لیک په ورزیاتولو ددې ارزښتناک اثر د بیا چاپ او خپراوی تکل وکړ او دا دی اوس د مطالعې او علمي استفاد او ادبي تندې د خړوبولو له پاره تر تاسو در رسیږي.

په پای کې له ښاغلي محقق سید محی الدین هاشمي څخه چې د کتاب نسخه مو د نوموړي له ځانګړي کتابتونه څخه تر لاسه کړې او د چاپ په ګانه مو پسوللې ده ، د زړه له کومي مننه کوو او دغه اثر ارزښتناک اثر د نوي ۱۳۸۲ لمریز کال د پسرلني فرهنګي ډالۍ په توګه تاسي ته وړاندې کوو خدا دې وکړي چې زمونږ دا فرهنګي خدمت د ادب او فرهنګ د مینه والو د مننې وړ وګرځي په همدې هیله

په درنښت میهن خپروندیه ټولنه

پېښور د ۱۳۸۲ لمریز کال د وری لومړۍ نیټه

# سریزه

دپښتو شعر او ادب پر تاریخي تحولاتو باندې څه جامع او مانع شی لیکل لاتر اوسه ممکن نه دی. ځکه چې ډېر ورک آثار لاتر اوسه زموږ لاس ته نه دي راغلي او نن لا هم داسې آثار راپیداکیږي، چې موږ کور ته پخوانه پیژندل.

ماله پنځو سو کالو راپدې خوا د پښتو ادب په راتلونه لاس پوري کړي او ځینې کتابونه می هم پر لیکلي یا چاپ کړي دي. خو بیا هم کله کله داسې نوي خبري اوري او داسې آثارو معلومات موم چې پدې پنځو سو کالو کې مي نه وه اوریدلي. نو ځکه ما وویل چې د (څه جامع او مانع) کتاب لیکل لاتر اوسه امکان ډېر لږ دی.

داخو د پښتو د تیر ادب حال دی که تاسې داوسني ادب د پلټنې او څیړنې پوښتنه وکې بیا به هم ز ه د غسې وایم چې پرد غو خبر و، باندې بشپړه احتوا گرانه ده.

ښه او س به‌نو مو ږ څه‌کوو ؟

د دې پوښتنې غبرګو ن دا سې دی چې که‌زوړ ادب وی او که‌اوسنی ادب که‌نوی فکروی او که‌زوړ سبك‌که دلته او که هلته ،پلټو نکی ا و څیړو نکی دی قلم پر ږاواخلی او دخپلو څیړ نو او مطالعا تو نتیجې دې‌ولیکې او هر څو ك چې‌څه نظراو مطالعه لری هغه دی لو مړی پلا داو مو موادو په ډول سره را ټول‌کا وروسته چې دنوی پښت غږ ی بیاو غواړ ی چې له هغو څخه پا خه‌مواد راو باسی کاربه‌یی سو که‌و ی او موږ به په خپل وار دخپلوڅیړ نوزړی‌ودو ی ته پری‌ایښی وی .

زه چ ی‌دادب پر تاریخی خواوویاتحلیلی اړ خو نو غږیږم مراد می‌دا دی چې خپل نظر اوڅیړ نه راتلو نکو څیړو نکو ته‌و سپار م د ښشپړ او جا مع او مانع بحث مد عی نه‌یم‌او ښایی چې زما لیکلی او را ټول کړی مواد به‌سهو ی او خا مــــی‌هم‌ولری . خو ښشپړ و نه اوسمو نه او ښوونه یی دآیندګانو کاردی .

پدغه فکر ما څو کاله دمخه یو څه مقالی دپښتوپر نو ی ادب‌باندی کښلی‌و ی چی‌هغه اوس ښا غلـــی‌زلمی هیواد مل سره راټو لی‌کړی چی دادی‌دی وی رسالی‌په‌توګه‌تاسی‌ته وړاندی کیږی.

تاسی‌یی‌و لولی تکمیل یی کړی تیرو تنی یی ور سمی کړی‌تر څخی او لستونـــی‌ور واچوی او دپښتـــوادب دتاریخ دغه بر خی ګردی‌سره راټولی کړی .

مابه‌نه‌وی رسولی کارتر پا یـــه
ته‌یی‌سم پخپله پو هه په همت که

کابل ، جمال مینه، دمیزان‌لومړی
ور ځ دیار لس سوه اوه پنځو سم
کال .

**عبد الحی حبیبی**

# وروستني تاريخي جريان او زموږ ادب

له دولس سوه پنځوسم هجر ی‌کال راپدې خوا په‌یوه پیړی کی د پښتو ادب لوی او ښتون ومو نداوددی بدلون ارسببونه چی پښتوادب ته‌یی نوی جو له(قیافه) ور کړ ی‌ده‌په‌لاندی ډول ښودل کیږی (۱) .په دی و خت کی داروپا دمد نیــت‌صنعتی دور ه پیل سوی‌وه او پــر هندو ستا ن باندی دانگر یزا نــواستعمار بشپړ سوی و هندوستان ته دنوی مد نیت او صنعت اغیز ی‌رارسیدلی‌و ی دانگریزا نو حکو مت په هندو ستا ن کی دادار ی ا و ښار نی او امنیت نوی دودو نه او لیار ی دودکړی وی او په ټــو ل‌هندکی‌یی دتگ راتگ لاری اوداور گاډ ی پټلی جوړی کړ ی وی نوی‌فکر اود مد نیت نوی دو دو نه او نو ی پو هنی او ښوو نځی په‌ټو ل‌هند کی منځته را غلی‌وو . جرا ید او مطبوعا ت هم په انگریز ی ژ به‌او هم د.هند په‌ژبو خپریدل .

چاپخانی اود کتابو نو دخپرو لووسیلی هم دیری سوی وی انکریزان له دغسی یوی قوی مد نی رغاو نی سره دا باسین غاړو ته راور سیدل دوی دپښتو نخوایو ستر فر هنګی مر کز یعنی پیښور هم و نیو او په اتلس سوه نهه دیر شم کال یی په افغا نستا ن هم یرغل وکی دلته نو دد غه اجتما عی او سیا سی کیفیت اثرو نه دپښتو پر ژ به او اد ب او ثقافت باندی لاز می وو . نو ځکه دپښتو نظم اونثر دواړه تر د غو اغیزو لا ندی را غله په نثر کی روانی او له ګړ دود سره برابره لیکنه چی خو شحالخا ن یی بنسټ ایښی و بیه دود سو او ځینی پښتو کتابو نه یا اخبارونه هم پد غه دول منځتـــه راغله . نظم هم په هغه پخوا نی قالب کی وده وکړه او ځینی نو ی سبکونه هم دود سول .

۲ ـ داروپا دمدنیت او صنعتی غور ځنګ اغیز ی پر پښتو نخوا باندی دایران له خوا او د شما لـی روس له خوارا غلل تجار تــی تګ راتګ اوسیاسی اړیکی له روس او ایران سره پیدا سوی اودشمال له خوا هم دروس داور ګاډو پټلی تر بخارا او خیوا پور ی راورسیدی دلته نو له هری خوا څخه دا سی قوی اغیز ی پښتو نخوا ته متو جه سوی چی دپښتنو فکر او ادب یی هرو مرو دتهینګ اغیز لا نــد ی راوو ستت نواو س موږ و ینو چی په پښتو ادب کی دنو ی فکر اونوی مد نیت اغیز ی پیدا کیږ ی . خلک دهیواد او آزاد ی اودنوی ژو ندون په فکر کی لویږ ی او کله چی دنولس سوه څوار لسم کال په شاو خواکی لومړ نی عمومی جنګ پیل شو نـو دلته پر شر قی ټو لو ملتو لکــه هندو ستا ن ، ایرا ن ، دو لــت عثمانی او عر بو باندی دارو پــا استعمار چیا ن یاسیده سیا ســی لاس بری وواو یادا چی دغه هیوادونه یی تر اقتصاد ی او کلتور ی اغیز ی لاندی راغلی وو . نو په ټو لــو هیوادو کی دداخلی آزادی فکر پیداسو او لومړ ی پلا سید جمال الدین افغا ن له کونړه وپاخید ، ده پـــه هندو ستا ن ، ایرا ن ، مصر ا و ترکیه کی داسی یو فکر پیدا کړ چی دغه بیده ملتونه یی راو یښــ کړل اوپه دوی کی یی دمبارزی دوه ډوله حر کتونه راو ښود ل . او ل : داچی بیده ملتونه باید دیږدو لـــه استعماره څخه ځانو نه آزادکی . دو هم دا چی دغه مظلوم ملتو نه له داخلی استبداده څخه ځانو نـــه وژغور ی اوداسی حکو متونه جوړ کړی چی هغه حکو متونه د خلکو د

دمو کراسی حقوقو ساتونکی و ی‌اودغه خلك و کړای سی چی خپل‌ملی قوتونه دخا ن دنیکمر غی د پاره په‌کار واچوی دسید جمال الدین دغه تبلیغ وو چی په هند کی دآزاد ی ډیر پراخ‌سو اوهغه پښتا نه چی دافغا نستا ن په ختیځو خواوو کی‌دانګریزانو داستعمار تر اثر لا ندی سوی‌وو . په هغو کی دآزاد ی احساس‌و خو ځید اود پښتو اد ب ته‌یی دآزاد ی خوا هی او وطـــن‌پرستی نوی جذ به راوړ له .اود غه اثرو چی دپښتو اد ب په نثر ا ونظم کی دفکر له‌پلوه نو ی تحو ل راوست .

۳ — په دی‌وروستی دوره کی دپښتو په‌نظم اونثر دوا ړو کی ، د ژباړ ی حرکت هم پیداسو ځینـی کتابو نه له اردو او انګریز ی څخه او ځینی هم له عر بی او فارســی‌څخه په‌پښتو تر جمه سول .مثلا ؛ نعمان الدین کاکاخیل دابن بطو طه(سفر نا مه) او قا ضی عبد القا در پیښوری ،عســکری نومو نــه ا وإصطلا حا ت له انګریز ی څخه په پښتو ترجمه کړه. غلام مــحــمدپوپلز ی چی دچارسدی او سیدونکی ودمولا نا حالی اردو مدو جزراسلام‌یی په‌پښتو منظوم کړ او منشـــی احمدجا ن دافغا نستا ن تاریخ لــه‌انګریز ی څخه په پښتو راوا ړاوه دتر جمی دغه حرکت وو چی دځانه‌سره یی نوی فکرو نه اود نوی‌مدنی ژو ند اساسو نه هم راوړ ل‌اوپښتوادب ته‌یی نوی ادبی تحول و ر— وبا خښه . پدی تر جمه کی‌شاعران‌او لیکوا ل دوا ړه مجبـــور وو چی پداسی ژبه خبری و کی چی‌لوستو نکی یی په مطلب ښه‌پوهسی. نوله دی جهته هم په نظم هم‌په‌نثرکی روانی او شګفتګی مو جو ده شوه . خلك خپل قد یم تاریخ تــه‌متوجه سول اود اروپا دمه نیــت اودژو ند دنوی فلسفی فکرو نه هم‌په‌نثر کی واردسو ل او هغه فکر ی انقلاب چی دنو لسم‌قرن له ملـــی‌او قو می نهضتو نو سره را غلی‌و دپښتو ادب ته یی هم نـــــو ی ښکلا ،نوی مفکوره اونوی تعبیرونه ور وبخښل .

٤—پدغه دوره کی ځینی شاعران‌او لیکوا لا ن داسی هم و چی دوی داستانی اد ب ته توجه‌و کړه ځینی‌لیکوا لو هغه کیسی او داستا نو نه نظم کړ ل چی په خلکو کی مشهوروو .ددی ډ لی مشهور استاد مـــلا نعمت الله دنو ښار او سیدو نکی‌وچه ډیر کتابونه یی چاپ سو یدی.

ددی د لی بل شاعر ملا احمدجا ن‌دپیښور او سیدو نکی‌و چی د یـر داستانو نه یی په‌نظم لیکلی دی .بل ددې د لی شاعر احمد په قوم اخوندخیل دی چی خو کیسی یـی‌چاپ سویدی ددی د لی اد بـــی اثرو نه دتاریخ او مفکور ی له‌پلوه‌کوم ارز ښت نه لری فقط ژ بنـی او نظمی ارز ښتو نه یی دیادو لووړدی.

٥ـ پدی دوره کی ځینی‌کتابو نه‌دتعلیم او ښوو نی په مقصد هـم لیکل سویدی . په افغا نستان کی‌دپښتو دزده کولو له پاره ځینـــی داسی کتابونه و لیکل سول‌اودپښتوژبی قواعدو اوګرامی ته هم تو جه وشوه .

دپښتو دلو مړ نی لو ســـت کتابو نه دکابل په مدرسه ، حبیبیه کی مر حوم مو لوی صا لح محمد کندهار ی و لیکل او بیا په پیښور کی هم دغسی نور کتابو نه چا پسو ل چی دا‌حرکت هم د پښتو د ژو ندانه له پاره ډیر ګټورو . کوم‌کتابو نه چی دد ینی ښوو نی دپاره په‌پښتو لیکل سو ی دی هغه هم‌په‌دغه ډول کی دا خل دی لکه د مـلا عبد البا قی افغا ن تبیین الوا جبا ت‌یاد دوست محمد ختهك تفسیر بد ر منیر او بحر العلوم یاد فیض محمدلوګری روضة المجا هدیـن یـا د کا می دمراد علی صا حب زا د ه تفسیر یسیر .

٦ ـ پدی دوره کی دشعر ا و اد ب یوه بله عا می او وګړ نی ډله هم سته چی دپښتنو په کلو اوبانډوکی نالوستی شاعرا ن هم سته دی اودوی دخلکو په عا مه ژ به شعروایی او کله کله د ملی تاریخ ځینی ستری پیښی اود ملی پهلوانا نو کار نا می په خپل شعر کـــی ځرګندوی . دادله شا عرا ن یقینادعا مو خلکو دفکر او ژبی اواخلا قو نمایند ګی کوی . دغه ډول اد ب‌دپښتو سو چه ځا نګړ ی شعـــر ی وز نو نه او ادبی بحرو نه هم‌رانښیی‌او موږ په پښتو ژ به کی په سوو داسی ملی او وګړ نی شا عرا ن‌لرولکه محمد جی، خدای رحم ، عبد ـ الودود توکل ،کمال ، نو روز ،ملامیرا ن ، او نور ددی د لی شاعری بی‌تکلیفه ارتـجاعـی او ساده د ‌ه‌دری دژوندانه بیلا ی‌بیلـی‌پیښی‌په ساده ژبه دعوا مو دفهم سره‌برابروی‌اود ملی‌ژ و ند پټ اړ خو نه‌لوځوی. مثلا کله چی په او ل جنګ کـــی‌انګر یزانو کابل و نیو دلته‌نودغسی یو وګړ نی شا عر دخلکو دزړه‌در د په‌یوه بدله کی تصویر کی او وی. ویل:

خالقه لایزا له — بی شر یکه بی زوا له
ایمان می خطا مه کړی — فر نګ ورک کړ ی له کابله
زاری می نشته بله

وګوری، پدی شعرکی د عـا مه‌احساس ښنګه نمایند ګی سوی ده چی تر ایما ن ورروسته یی و طن په‌یاد دی اود پر نګی ور کید ل له‌کابله ښخه لو مړ نی دعا ده دافغا نستان په‌بل ملی جنګ کی یوه بل وګړ نی شاعر دپښتنو میر منو اشترا ک په‌غزاکه داسی بیا ن کړیدی :

چایی پلو لید لی نه‌وو – او س دجمرود پرغاړه ځی سرتور سرو نه پر کابل جنګ دی.

دا خلك چی داسی شعرو نه یی‌ویل ټول پښتانه وو . دو ی له‌خپله هیواده او خپله سیاسی مر کزه‌سره‌خونی مینه در لوده. دجمروددپښتنو مستوری پیغلی به دجنګ میدا ن‌ته‌وتلی داو لی؟ چی پر کابل جنګ‌و اوداد دو ی سیاسی او ثقا فتی‌مرکزو . پدی ډول دنو لسم قر ن‌تاریخی جریا ن په‌پښتو اد ب کی دا ســی‌اثرو نه کړ ی دی.



# پښتو ادب د اجتماعي څېړنو له پاره

ټو لنه او اجتماع په موجوداتو کې يو خاص ناموس دی چې هيڅ شی له دی څخه نشي وتلای.

يو ژوندی جسم که انسان وي که حيوان يا که کوچنی ذره بيني ميکروب دا ټول له له خورا و ړو کيمياوي ټوټو څخه جوړ شويدی چې دا ټوټې هم د ډيرو کوچنو ټوټو ذراتو څخه مرکبې دي ، او دغه ذری هم يو له بله د ټولنی او تجاذب طبيعي خاصيت لري .او دغه خاصيت او يو له بله سره نښتون په دوی کې د ژوندانه حرکت پيدا کوی او کوچنی او لوی ژوی (حيوانات) ټول په دغه اجتماعي خاصيت د ژوندانه مجموعې لري چې د دوی اجسام څني ترکيب شوی وی .

نو لکه دژو ندیو اجسا مو چی‌دژوندانه له مجمو عی څخه‌جوړیږ ی دغسی هم هر جسم او هر فرد دله‌نورو سره نښت او یو ارتبا طلری اودغه داجتماع خا صیت دپوها نوله خوا حتی په خز ندو او چینجواو حیواناتو او مر غانو او وحشـــی‌هګانو کی هم ښوو ل سویدی (۱).

انسا ن هم دد غی طبیعی‌سلسلی‌یوه کړی ده . مګر دبشر اجتما عی بنیاد پر اجتما عی.نظاماتو ایښو دسو یدی . او څکه چی یواز ی‌دد ه ژو ندون مشکل دی. نو ټل‌دټولنی‌په‌سیوری کی خپل ځا ن له ناو ړو وا قعاتو څخه ژغوری (۲).

لکه دانسانی افرادو درو حـــی‌تحقیق له پاره چی دروحیا تو علم‌د (سایکالوجی) په نا مه مو جود دی‌دغسی هم دانسانی ټو لنودروحیاتو له‌پاره ( احتما عی روحیا ت) د یـرعمیق او په‌زړه پور ی بحثو نه او څیړ نی لری.

طبیعی پو ها ن خو انسانا ن د رنګ پر اقسا مو و یشی . مګـر اجتما عی فلا سفه ملتونه دروحیاتوپر اصولو سره بیلوی دوی وا یی چی هر ملت‌ځا نته بیل فکری‌اوعقلی‌او رو حی ممیزات لری . لکه‌ددو ی جسمانی خا صیتو نه چی ګو ښی ګو ښی دی ، دغسی هم ددو ی‌عقلی خصایص او روحی ممیزات سره‌بیل‌دی او داخاصیتو نه ددوی(قومیت او ملیت )ور جوړوی (۳) او دهـرملت ثقافت او مد نیت هم له دغـو عنا صرو څخه تشکیل کیږ ی‌چی‌دعلم الاجتماع په اصطلا ح یـــی (اجتما عی نفس یا ملی رو ح)بو لی‌اودا هغه جذبا ت او مشا عر ا و ذهنیا ت او تصو را ت او اوها م‌او عقاید او نفسی حالا ت دی چی یوملت له‌بله بیلوی اود ( فکر ی وحدت) تر سیور ی لا نـــدی وده کوی (٤)

دهر ملت تاریخ ددوی دروحیاتوښکارندوی اودنفسی خصا یصو ، هنداره ده .

---

(۱) دبلا کمار عنا صر اجتما ع‌دوه پنځوسم مخ.

۲ ـ دابن خلدو ن مقد مه‌شپږ ویشتم مخ .

(۳) دګوستا ولوبون‌سیر تطورالامم څوارلسم مخ.

(٤) روح الاجتماع نولسم مخ .

هره لوړ تیا او بری او هر کښته‌توب او پرزیده چی یو او لس تـه ور پیښیږ ی دغه ددو ی دروحیاتواغیزه او نتیجه ده دکتور گو ستاو لوبون وایی :( که انسا ن نابیره‌یوه‌پردی هیواد ته‌و لاړ سی لو مړی‌شی چی دی یی هلته وینی د هغه قوم خپل خصو صی اخلا ق اوروحیا ت او مشترك جنسی صفات دی چی‌په‌ټولو وگړو کی‌ښرگندیږ ی او دا را ښیی چی هغه او لس ځا نته یو بیل(روح) لری او ( اجتماعی نفس) یی هم گو ښـی دی ۱) ددی علمـی‌خبری مثا ل ددنیا په ټولو ملتو کی ښرگند لیدل کیږ ی . په ټو له‌دنیاکی یهودیان کـا غ او طـما ع ا و گټندوی او پول پرست دی ځینـی‌تو کمو نه په‌تالا او یر غل اوسخت ژوند ښه پو هیږ ی دځینو په ملی‌روح کی متانت او کلکه اراده ستره ځینی عملی روح ډیر لری.هندیان‌روحانی ژ و ند اود تصو ف افکار خو ښوی اود غه (خصایص بارزه )یا اخلا قی او عقلی نوا میس چی د ملت( اجتما عی نفس) ځینـــــی‌جوړ یږی حقیقتاً دملتو د ارتقـــا یالویدو سبب گرز ی . او خورا درنې اغیزی هم‌لری (۲)

دټو لنو د( اجتما عی نفس) په تشکیل کی دوه مهم سببونه لو یه برخه لری.

اول وراثت دی چی ملی‌خصا یص‌له اسلا فو څخه اخلا فو ته رانقلیږی اوداپه فر نگی اصطلاح‌اتاویز م‌بولی‌دملتو نفسی صفات لکه جسما نی صفات ټینگ وی. او په ورا ثـت‌سره تل له‌یوه پښته بل پښت ته ځی . دپلرو او نیکو نو آثار د هرملت په‌روح کی دایم او کلك‌پاتیږی که‌څه هم زما نه او محیطو نه‌دملتونوروحیا ت اود ژ و ندو ن لاری و ر اړوی . مگر په دغه تطور کی‌دملتوروحیا ت او ارثی نظاما ت په خورا سو که ډول او ښتل مو می چی مشاهد هم‌نه وی (۳).

داجتماعی نفس دتشکیل دو هم‌مهم عا مل محیط دی او هرمحیط ځا نته اغیزی لری. اخلاق اودودونه‌جذبا ت ، نفسیا ت او نور ټو ل د انسا ن مادی او معنوی خصا یصـ‌او مزایا دمحیط په اختلا ف تغییـر

---

(۱) سیر تطور الامم دیار لسم‌مخ .

(۲) دهنر بکل دتمدن‌تاریخ‌دشلم- دوه ویشتم مخو نه .

(۳)دگوستا ولوبون کلما ت‌شپږویشتم مخ.

کوی. مثلا هغه آریایا ن چی تقریبادوه نیم زره کاله پخوا دپښتو تخوا ښخه دهند تودو اور شو گانو ته شیوه سول هلته ددوی رنگو نه ، عاد تونه او ټول خصا یص هـــم وگرزیدل . مگر هغه د لی چی په دغو غرو کی پاتی سوی خصایص یی بیل دی دوی خپل قو می اوهیوادنی ملکات او جذبا ت او اجتما عـــی نفس لری.

څکه چی ادبیا ت یعنی ژ به، شعر، متلونه ، کیسی ، او نور اد بی روا یات تل دهغه ملت داجتماعی نفس او ملی خصا یصو هنداره وی. تو که څوك وغواړ ی چی دیوه ملـــت اجتما عی نفسیا ت او جذ بـــا ت مطالعه کړی. نودد غی خبر ـــی له پاره په ادبیاتو کی ډیر ذخا یـــر او مواد لا س ته ور تلای سی .

**ژبـــه :**

ژبه دهر ملت پر عقلیت له دی پلوه دلالت کوی چی په هر عصر کی دعقلی ذخایرو یو مهم مظهر ژ به ده. ولی چی ژ به په یو پلا نه ده پیدا سو ی ، او نه له اسلافو څخـــه اخلا فو ته دغسی بشپړه را غلی د ه لومړی پلا انسانانو دخپلو ابتدا یی اړ تیاوو له پاره څینی الفا ظ جو ړ کړل ورو سته چی نوی شیان مینده کیدل نو نوی نو ی کلمات هم ورته جوړ یدل . کله چی شیان ورکیدل، نومو نه هم له منځه و تل نو پد ی راز هره ژ به دیوه مستمر مر گ او ژ و ندو ن په مر حلو کی سیر کوی. دغسی هم دژ بی اشتقاقا ت او تعبیرو نه دهغه ملت دلوړ تیا سره سم وده کوی مثلا که دفرانسوی ژبی یو دسلو کالو دمخه قا مو س وکتل سی نو به دراډیو اوتلویزیون نومو نه نه سی پکی مینده او داخبره ثابتوی چی فرا نسو یانو هغه وخت داشیا ن نه پیژ ند ل په دی ډول هره ژبه دهغه ملت پر عقلیت ښه رڼا اچوی. اود هر مملکت د طبیعت او محیط اثر پکی کیږ ی . پښتو ژ به هم دد غو ټولو موثراتو تراغیز ی لاندی ده پښتانه پخوا دغرواودښتو خلق وو دوی له بحره لیری پاته وو څکه نو د بحری حیوا ناتو له پاره نومونه نه لری باالعکس ددو ی په ژوندانه کی مالداری اوپونده گـــی ډیره وه. حیا ت یی په غیلو او د پسو نو په محصولا تو کاوه نو د پسو دپاره ډیر نو مو نه لری. هرراز پسه په اختلاف دنوع او عمر نو م لری . او ښ هم ددوی د حمل ونقل

لویه‌ذریعه وه. نو ددی .حیوا ن له پاره هم ډیر نو مونه سته او دا د اجتما عی او حیا تی محیط اثرو نه‌دی.

دطبیعی محیط اثر هم پر ژ بی‌ډیردی. مثلا پښتانه ډیر په غرو کــی میشته وو نو دډیرو نو مو نه‌داقسامواو اوزانو په اختلاف خورا ډیر دی لکه ډبره ،گټه ،تیږه ،پر ښــــه ،غر گی، کانی ، شګه ، سنګر ،لپانکی شا خه او نور ...

پد غه ډول دطبیعی او مادی‌شیانوله‌پاره ډیر او متراد ف نو مو نه‌لری لکه غر شاګی پوزه ، غونډ‌ی ، توره ، مګر دمعنویاتو او عوا طفـو او احساساتو له پاره ډیر کلما ت‌نسبته څکه چی‌دوی یو ماد ی‌سپیڅلی ژوندډرلود دسرور او لهوو لعـــب‌اصطلاحات او نعمتو نو نه‌لږدی‌څکه چی داشیا ن په پښتنو کی لږ وومګردنو ل وير ناورین، بخول‌نومو نه، متعدد لری. دهجو می اقداماتو نو مو نه هم لکه یر غل ،تالا،غدی ، زغل ،چور ،چپاو ، ډیر دی .

له اخلا قی پلوه هم ډیر بداخلاق‌په‌پښتنو کی نه‌وو . نو څکه د هغو نومو نه په پښتو کی نه لرو.

دکیږ دی هر دیر ك بیل بیل‌نوم‌لری. څکه چی په کیږدی کــی د پښتنو روز مره ژو ند و هغه‌کلمات‌چی قوت او قدر ت پکی پروت وی شته لکه غښتلی ، پیاوړ ی،ګړ ندی‌زغرد ، کروړ ، کلك ،اما دضعیف له‌پاره مو ضو ع کلما ت لږ دی .ولی‌چی پښتانه ټو ل غښتلـــی او توریا لی وو .

دځینی مو جودو طبیعی منا ظروله‌پاره ښه ښه نو مو نه وو څکه‌چی دقدرت دلا س ښکلی شیا ن ددوی‌ترسترګولا ندی وو لکه‌رڼا،روښنایی وړانګه ، پلوشه ، رڼه چی دضیاءمختلف مظا هر دی . دبارانو له‌پاره څو نومونه سته لکه پسته ،وو ر ،هښه ، و سه ،شیګره ، شیبه،پونه ورینګی او نور .

په مملکت کی لوړی ژور ی‌ډیری‌وی. نو دی دوو حالتو ته ډیرالفاظ سته‌لکه لوړ ، بر، پورته، هسك ،پاس، او چت، جګ ، یابالعکس‌کښته کوز، شیوه، خوږ ، لا ندی .

دپښتو دلغاتو او کلماتو مطا لعه‌دابښکاره کوی، چی پښتانه عقلا او فکرا حقیقیو ن(ریلیسټ) وو یعنی‌دځیا لی او و همی شیانو خوا ته

یی میل خورا لږ وو .ددوی ادبیات هم ساده او سپیځلی طبیعی وو ، خیالیت (ایدیالیزم) لږ پکښی ښکاری.

مثلاً دپښتو ژ بی تذکراو تانیث چی پر افعالو اوضمایرو او کلما تو باندی په شدت جاری دی داراښیی چی دپښتنو عقلیت هر شی ته په داسی سترگه گوری چی هغه نظرور ته ښکاری اودغه خاصیت یی په ادبی ژبه کی هم خوراښکاره دی لکه په فارسی ادب کی شاه ، شاه خوبان دمعشوق له پاره استعمال سوی وو اودا ځکه چی شاعر او عاشق په ټول اقتدار ، د شاهانو په ډول دمعشوق په لاس کی گانه نو یی خپل معشوق شاه باله سنایی غزنوی وایی:

نه ازین جانه از آنجا دل من برد مهی

زین گهرخندنگاری و شکر بوسه شهی

ځکه چی په فارسی ژبه کی دمذکراومونث فرق نه و نو د غه شاه طبعاً مذکرو گانه سو اود شاعر دعشق طرف هم پسر او کافر بچه وگرزید .

هر زمانی باسنایی درخرابات ای پسر

صد لباسات عجب دانی ز هی کافر بچه

داد عشقبازی یو غیر طبیعی جریان و چی دمعشوقی پر ځای معشوق اود محبوبی پر ځای محبوب او گل پسر او کافر بچه ودرید اوداسی ښکاره سوه چی د هرشاعر ممدوح او معشوق یوازی مذکر جنس دی. مگر دا خبره ډیره ممکنه وه چی کوم شاعر به په طبیعی شوق یو شعر دکو می پیغلی په مینه کی هم ویلی وی. خو په ژبه کی دجنس فرق نه و . نو ځکه شاهد، شاه، بت، صنم، سروسهی آفت ،عقل و جان او په سوو نو رد معشوقانو نومونه ټول پر هغه گل پسر او جنس مذکر اطلاق سول.

اما پښتانه داد ب او عشق او تعبیر پر میدان ریالیزم ته مایل وو دوی هغه دفارسی او عربی تعابیر واخیستل. مگر هغه یی ټول د خپلی ژبی پر طبیعت برابر مونث کړل اوددوی اجتماعی نفس دلته په ادب کی یوه ښکاره اغیزه وکړله.

مثلا لکه په فارسی ادب کی چی(شاه) دمذکر معشوق صفتو دغسی (محبوب) هم استعمال سو ، بید لوایی:

بید ما غی مژ ده پیغام محبو بم بس است
قا صـــد آ وازدریدنها ی مکتو بم بس ا ســت

کله چی محبوب په اد بی ژبه کی استعمال سی مطلب یی حتمانارینه دی. څکه چی یو بل شاعر غوښته چی له خپلی ښځی معشو قی څخه شکوه وکړی. نو ده پدی بیت کی دمحبوب پرځای محبو به یـــا ده کړه:

محبو به چو بی و فا برا مد شر منده انتخا ب خو یشم

دپښتو په اد ب کی هم شاه ،محبوب استعما ل سو ل مگـــرد پښتنو اجتما عی مزاج دغه کلمات په مذکر ډول نه سوای منلا ی .
او حتما یی دپښتو ژبی احکام پـرجاری کړ ل له شاه څخه یی مونثه شها ، شـهـی شهو جـوړه کړه.او له محبوب څخه محبوبا اودادواړی کلمی په پښتو ادب کی دا سی ډیری ستعمال شوی چی او س یـــی هیڅوك پر دی نه بو لی ، احمدشاه بابا وایی:

په خوارا غله محبوبا عجب ښکار کا دلر با
چی یی سر په مینه کیښود هغو یووړه محبوبا

دشهی استعما ل هم ډیرو ، خو شحال خا ن ختك ویلی دی:

دشهی تورو سنبلو په سپین مخ بی تسلسلو

له ژبی او ادب څخه د پښتنـو اخلاق او اجتما عی او ضا ع هـم څرگندیږ ی. مثلا ز هره هغه ستوری دی چی ماښام راخیږی او ځینـــی پښتانه یی (میلمه سترگه) بو لی داځکه چی دوی به ماښام ضرورمیلمه ته منتظر وو او یواز ی به یـــــی ډوډ ی نه خوړه. نو داد ماښا م ستور ی دوی ( میلمه ستر گه ) وبلله . یعنی هغه ستر گه چـــی داراو ځیږ ی نو میلمه هــــم راځی.

پدی ډول که دپښتنو لغتو نـــه او کلمات او ادب له رو حی پلوه تحلیل سی نو دپښتنو اجتما عـی روحیا ت څرگند وی. پخوا نوپښتنو خود حقیقت او ریلیز م خوادر لوده دوی خیا لی نو مو نه لږ ایښوو ل. یعنی هغه شیان چی ددو ی په حیات کی داخل وو . نو مونه یی په خپله ژبه ور ته در لوده . مگر د پښتو صرف او نحو او فقه اللغه داښکاره

کوی، چی ددوی د عقلیت دابر خه‌هم بیخی تنگه نه وه .څکه چـــی صبر فی مشتقا ت او مواد دو مره ډیر دی چی پر اکثرو انسا نی‌روحی حالا تو باندی ښه دلا لت کوی .اوددوی عقلی ا ر توا لی څرگندوی .
مثلا په فارسی کی خندید نددیوه‌روحی کیفیت دښکاره کولو له پاره ستة چی نور اقسام یی په لب‌خند،شکر خند ، ز هر خند سره تعبیر کیږ ی مگر د پښتو خند ، خند ل‌اومسا مسیدل فرق لری.لو مړ نی‌حال عام او دو هم خاص دی چی معنی‌یی تبسم او لبخند دی علا وه پردی هنیدل ،شیدل ، کټهیدل هم دخند مختلف انوا ع او خا ص موضو عی کلما ت دی چی په ترکیب سره‌ندی‌جوړ سوی . په هنیدل کی لږ څـــه بیباکی او په شنیدل کی مستی اوپه‌کټهیدل کی دخندا نها یی حــــال ښودل کیږ ی . چی په‌عر بی یــــی‌قهقه بو لی الفرد فو یه( اتلس‌سوه اته دیرشم نه تر نو لس سوه دولسم میلا دی ) فرا نسوی درو- حیاتو محقق لیکی چی جرمنیا ن داحتیاج پرو خت ضروری کلما ت جوړوی. کانټ او هیگل څا نتــــه‌دضرور ت له پلوه څنی کلما ت‌جوړ کړ ی دی (۱) عر بی ژبه هم له دی‌خوا ارته سوی ده نولډ که آلما نی مستشر ق وایی چی دعر بـــــــوشاعرانو ډیر لغا ت په خپلو اشعارو کی په‌کوم تقر یب په څینو معناووراوړی وو ورو ستة لغت ټولوو نکو خلکو پر دغو کلماتو دمو ضو عـــوالفاظو گمان وکړ او په خپلوکتابو کی یی در ج کړ ل . مثلا هیضم اوهراس چی دزمر ی په معنا یی‌راوړی دی حال دا چی دغه کلمی بیلــــــی‌معناوی لری (۲) .
داخا صیت تر یوی انداز ی پـــه‌پښتو ژ بی او ادب کی هم لید ل کیږی چی له اجتما عی اوجغرا فیی‌محیط څخه پیداسو یدی . او او س دپښتنو دروحیاتو په پلټنه کی ښه‌کار څینی اخیستل کیږ ی . دغسی دپښتوژ بی آ هنگ ، ږ غو نه اوکلمات اود ژ بی درو ندوا لـــــی او صلا بت دارا ښیی چی دد ی ملت مزاج او روحیا ت خورا کلک اوذرانه او غښتلی دی (۳)

---

(۱) داروپا داو لسو نو روحیا ت‌یواوپایم مخ
(۲) د احمد امین فجر الا سلا م‌اوه لسم مخ.
(۳) تتمت ا لبیان څلورم فصل

مثلا په‌پښتو ادب کي پښتون په‌خا صه معنا استعمالیږ ی ، چی د انسانی صفاتو جا مع سړی ته‌وایی.که‌وو یل سی چی پلا نی پښتو ن سړی دی دلته خو یو داښکار ی‌چی‌دغه سړی پښتو ن ملت ته منسوب دی . خو پدی جمله کی دا معا نی‌هم پراته دی چی هغه سړی ر حم لری ، عاطفه لری دلاور دی،غیوردی، غریب پالونکی دی او نور او نور په آخر کی له دغی کلمی څخه‌یوه ډیره جا معه اود ډیرو معناوو ډکه بله کلمه زیږی‌یعنی (پښتنواله)اودا هم دپښتنو په اخلا قی قاموس کی دټولو انسانی ښو صفا توجامعه‌کلمه ده.

نودپښتو ژ بی آ هنګ او فقه الصو ت او ادبی سا ختما ن ا و وینایی جوړ ښت ددی ژ بـــی دویو نکو روحیا ت او نفسی‌جذبا ت اواخلاق په ښه ډول څرګندو لا ی‌سی .

شعر

دهر ملت اشعار ددو ی عقلـــی‌ژو ندون ښکاره کوی . اخ لاق ، دودو نه ، دیانت ، عقلیت او نورروحی خصایص یی ښیی . پـــه شعر کی د ملتونو اجتما عی نفس‌او رو حی سا ختما ن او فکری‌بنیه داسی ښکار ی لکه په هنداره کی‌چی هرڅه ښکاریږ ی . دپښتـــــو اشعار خودوه ډوله دی . یو هغـه شعرو نه او بدلی دی چی مو نږ‌یی لغړ او سپیڅلی ملی مال بولو، اوبل هغه شعرو نه دی چی پښتنـــو شا عرانو د عر بی یا فارسی ژبـــوشاعرانو په ډول و یلی دی اوددغو ژبو ادبی او عرو ضی او قافیو ی او فکری اغیز ی لری.

هغه اشعار چی دوز ن او قا فیی‌او نورو خصو صیاتو له مخی بشپړ پښتو دی هغه تر له ددی قو م د عقلیت او تفکر نتیجه ده مګر هغه اشعار چی په عرو ضی ډول دی‌اودنورو ژبو اشعارو سره‌سم و یلی سوی ، او تقلید سویدی ، پداسی‌شعرو نو کی هم د پښتنوا لـــی عقلیت اغیزه کړ ی او تر خپــــل‌او لسی اثر یی لا ندی کړ یدی .

دشبلی نعمانی په قول عر بـــی‌شاعر تل د نفس عزت او خـــپل غرورساتی مین که‌څه هم خپلـــی‌محبوبا ته اړوی او وصال یی‌غواړی مګر دی دګدا په څیر نـــد ی البته جانباز دی مګر غلام ندی د مینی مصیبت ته‌تیار دی . مکـــرذلیل ندی مثلا یو عر بی شا عر خپلی مینی ته داسی خطاب‌کوی:

فلا تحسبي اني تخشعت بعد کم　ولا انني بالمشي في القيد احز ق

(يعني داګمان مکوه چې زه بـــه‌تاپسې خاشع سم او نه به په بند سره له‌یو نه‌پاته سم) (۱)

عربی شاعری داسی نظا يـــر ډير لری پدی لا ندی بيت کی هم شاعر دقوم په ميرانه اودلا ور ی‌فخر کوی او هغه د خپلی معشو قی له خو لی داسی ښيی .

اذا اسو د جنح الليل فلتـــات ولتکن
خطاک خفافا فا ن حرا سنا اسد (۲)

(عمر ابن ابی ربيعه)

يعنی ( ما ښام چې د شپـــی‌وزر تور سی نو ته‌راشه مگر پلونه ورورو ږده چې زمو ږ ساتنوا ل زمری دی).

په‌شر قی شاعری کی ځينـــی‌داسی مثالونه هم شته چې شا عر ډير ځان سپکوی او خپل و قا ر او شخصيت د معشو ق په مخکی له‌لا سه باسی .

مگر دپښتو اد ب که کله پـــه تقليدی ډول داسی نمو نی و لری. په خپل اصلی رنګ کی يو ممتازاوموقرشکل لری او پښتو ن شا عر ځان دو نی نه سپکوی او خپـــل‌غرور او مناعت نه‌بايلی مثلا خـو-شحالخا ن خو دعشق پر ميدا ن قربانی ته حاضر دی. مگر د خپل نفس لوړ تيا او عظمت هم پـــه‌عاشقانه ژبه محبو باته دا سی ښيی مرګ لره يی واړ ه دو هلی لښکرراغلی

ته لا د خو شحال په‌مرګ ځان روغه ګنی ننګ کړی

سربازی او توريا ليتو ب‌په‌عشق‌کی هم دده سره ملګری دی او د رقيب مخی ته توره په لا ســـورځی :

په درست جها ن به‌نه‌وی يو ماغو ندی رسوابل
ور ځم توره وګنبلی‌چې مين وارو م په تا بـــل

اوس نو له دغه‌بيته سره ديوه‌بل‌شاعر دا مضمو ن پر تله کی چې وايی :

(۱)شعر العجم پنځم جلد .
(۲) مغنی اللبيب

فلك به حال من خسته دل جفاها کرد
که به جان گدایا ن بی عصا نکنـــــد

یو بل شاعر په عشق کی دونی پټ پتانه کوی ، چی قطعا دمعشوق نوم نه اخلی اودنورو خبرو په ترڅ کی دخپل نا مهر بان یارپوښتنه هم کوی:

بهر مجلس که جاساز م حد یث نیکوآ ن پرسم
که حرف آن مه نا مهر با ن را د رمیان پر سم

او س نو دد غه رو حی حا لت په مقابل کی دخوشحالخا ن د غه عشقی صرا حت ته و گوری :

زه خو شحال کمزور ی نه یم چی به ډار کړم
په ښکاره ناری و هم چی خو له یی را کړه

دپښتون شاعر پرښا ن و یســـا او په پښتنوا له کی دد غه مز یت انداز ه له دی بیته ښکاری چـــی خوشحال ویلی دی:

دمز ریو مړ نتو ب په لښکر نه وی
مې یی هر کله یوازی پر خپل ښا ن وی

### متلونه

په پښتو کی متل عین هغه شی ته وایی چی په عر بی یی مثل بو لی، بنایی چی متل له عر بی څخه مفغن سوی وی . څکه چی کله په تفغین کی ث په ت بدلیږ ی لکه میرا ث چی میرات سو . دعر بی لغت پو ها ن وایی چی مثل او نظیر اودا کلمه له عر بی مثل څخه جوړ ه سوی او پر ټولو حکمتو او لنډو قصو ا و اساتیرو اطلاق سوه .

دپښتو اد ب یو مهم ټو ك د غه متلونه دی چی په لنډو وینا وو کی حکمتونه اود گټی خبری ځای شوی دی. په متلو کی دملتو دروحیا تو خورا ښبی ښبی نکتی پر تی وی او ځینی پو ها ن وایی چی تر شعـــر لا متلو نه د ملتو پر عقلیت ښــــه دلا لت کوی . ولی چی اشعار دداسی خلقو له کو مو راوز ی چی فکر او ذهن او عقلیت یی تر عوامو لوړوی اما متلو نه دعوامو له تفکره حکایت کوی. اود متلو الفاظ لکه اشعا ر مصنو عی او پالش سوی نه و ی،اودعوامو په ژبه و ی . نو متلونه دوگړو نږغ گڼلی سو . او پر رو حیاتویـــی دلالت ترشعر ټینګک اودویساو ړ وی. متلونه دملتو داجتما عـــی ژو ندو ن اوددو ی دعقلی هو یت

ښکاره کړو نکی دی .په مختلفو او ضا عو او کیفیاتو کی دتجر بو او از میښتو نتیجي دی چی په‌لنډو کلماتو کی ځای شوی دی .

دپښتو متل دی ( جنګ په‌و سله‌کیږی او ننګ په غله) له دی متله لاندی خبری استخرا ج کیدلای‌سی.دپښتنو اجتما عی ژو ند پر دوه‌رکنه ولاړو . او ل له ځانه څخه دفاع ،دو هم یو له بله سره په رو غه‌ژوند کول . چی پدی متل کی او ل ته‌جنګ او دو هم ته ننګ ویل سوی دی ددوی عسکری احساسا ت په‌دفاعی او خصمانه حر کا تو کی، او دننګ جذ بات په خپلوی اوروغه‌کی دژ و ندانه مداروو .

وسله په دوی کی مهمه او غله‌مهم داړ تیا شی و.

دی اجتما عی اړ تیا دوی زراعت‌او کرنی ته‌پاڅول . نو یی په‌اخلاقو کی‌زرا عتی روحیه اود کر نی قدرکول داخل سول . دارو حیه که‌څه هم دزړو آریایانو ده او او ستا ددو ی زرا عتی حالت ښه ښکـر ګندوی (۱) مګر په پښتنوا لی کی‌خود غه زوړ روح بل راز سو اود پښتنو دروحیاتو سره سم دننګ‌دپاره یوه وسیله سوه او له د غه څخه مو نږ ته ښرګندیږ ی چی د پښتنو داجتما عی ژو ندا نه‌اساس ننګ و. نو دننګ دپاره غله‌اوکښت‌ضرور و اودی کیفیت د پښتونخوا وګړی اکثر کرو نکی او زراعـت‌پیشه‌کړل.

(پر پچه‌و خو ت کشمیر یـی‌ولید) .

دابل متل دی او دارانښکاره‌کوی‌چی پښتنو په عین ملی غروراوډځان په‌ویسا کی خپل حد نه ورکاوه. یعنی په لږ څه له هو له نه‌و تل‌او بی‌ځایه تکبر یی نه کاوه دلویو کاروله‌پاره یی لوی و سایل پلټل او یوه جزوی و سیله یی دمهماتو له پاره‌کافی نه ګڼله.

((دډیرو لرګی دیوه غوز ی ))

داجتما عی تعاون رو حخر ګندوی.اودکولکتیویز م اساس په اجتماعی کارو کی ښیی .

کله‌کله په پښتو متلو کی ، د فلسفی ګرانی خبری هم را غلی او داښیی چی دپښتنو عقلیت سو چ بدوی او غر نی نه و دد و ی په‌فکر

(۱) دمشر قی آریایانو تمد ن دوه سوه اته‌و یشتم نه‌تر دوه سوه اته دیرشم مخ پوری .

کی ژور توب هم مو جودو . مگــر طبیعی رنگ یی در لود د صنعتی او مو ضو عی پو هنو صیقل نه ووهلی مثلا دافکر چی جها ن زمو ږ داعمالو دنتیجو دانعکا س ځا ی دی او هر سړ ی ته دخپلو چا رو جزا او مکافا ت رسیږ ی. په انسا نی اجتماع کی دافکر ډیر دی .مو لا نا جلال الدین بلخی وایی :

این جهان کو هست و فعل مـا صدا

این صداها باز گردد سو ی مـــــا

پښتو دغه اجتما عی قانو ن په یوه متل کی لنډ ښوو لی دی چی:

((مه کوه په چا ، چی و به شی په تا)).

په دی ډول دپښتو هر متل یو محکمی او گټوره وجیزه ده چی د دوی روحیا ت او اجتما عی ژ وند ښه ځینی ښکاره کیږ ی.

**قصی**

لکه شعر او متلونه ، دپښتو قصی او روایات هم ددوی داجتما عــی نفس ښکارندو ی دی درو غی ژوندجنگ دو دو نه دعشق او مینــی حالا ت او رو حی جذبا ت ،دد و ی ذهنیت او افکار دملگری او رفا قت لاری او حالونه . شاعرا نه حیات شرا فت دننگی سره علا قه،توریا لیتو ب ، دفاعی او هجو می احسا سا ت دښځو شریفا نه اخلاق، لنډه داچی پښتنی قصی ددی ملت روحیه په ښه ډول ځرگندوی. _

دپښتو قصی او نکلونه د ځینو پهلوانانو پر سیر ت او کردار ، مشتملی دی او شا عرانه سپیڅلــی خوا هم لری - چی په دوا ړو کی ددوی د اجتماعی نفس او اصلی بڼه ښکار ی اوددغو قصو نار ی او بدلی ډیری داسی نکتی لری چی د ملــی روحیاتو په پلټنه کی خورا مهــمی دی.

دکتور گوستاو لوبون وا یی :

قصی هغه حوادث دی چی د حکایت اود ملت حقیقی مشاعر ځرگندوی، قصی هغه حواد ث دی چی دحکایت کوو نکی عاقله پو هه متاثره شوی وی(۱) دپښتو اد ب په غه خوندوره برخه کی یوه قصه دپتی خا ن بریڅ او رابیاده چی دبست دزاره ښا ر او سیدو نکی وو دا دواړه میڼا ن په توروا قعو کی سره ملگری دی پښتنی میر منی په جنگو کی په خپلـــــه

(۱) دگوستاو لوبو ن کلما ت یواویایم مخ .

شا ملیږ ی او توریا لی دی. هغه‌وخت چی له شپیتو تنو ملکروځخه یواز ی پتی خا ن اودده مینه رابیا پاتیږی نو سهار را بیا پتی خان‌ته په دی ناره سره د جنګ تشو یق‌کوی او وایی :

سردسره پلنګه هسك که پتـی‌خانه

را بیا ګلی پنده ، ورته کړه سپرېږی

چی‌پتی خا ن لاله خایه ښر نه وورا‌پورته کړ ی. رابیا دجنګ له پاره پرآس سپره‌وه اود غلیم مقا بلی‌ته‌تله. نو یی پر خپل مین داسی‌نار ه وکړه:

(سر دسره پلنګه هسك که پتی‌خانه

رابیاګلی‌پنده‌ور ته کړه سپره شو ه

پتی خا ن په‌داسی حماسی ږ غ ځواب ورکی :

(که تتی دګواریو ښا نګی تتی

یامی خوریی! یا می مور یی

ځوریی نه‌کړ م پردا سپینه سینه‌پښی)

په‌پای کی پتی خا ن یواز ی د جنګ پر میدا ن پاتیږ ی نودا سی وایی:

(که‌بو تی هندو ستا ن می بوتی‌بوتی

په‌سپیتانه کی خلا ص نه سوو

اوس راوا‌ړوه دسپینوچړو موتی)

په‌دغو نارو کی دخلقو جنګـــی احساسا ت اودرو ح کلکوا لی اود دوی دښځو رو حی او معنــــوی‌غښتلوا لی او نه ما تیدو نکـــی اجتما عی نفس ښکار ی چی دپښتني‌اجتما عی مزاج او فکری جوړښت هم تر‌ښتو ن کښته او ضعیف نه‌و.

عفت او ناموسدار ی او پاکژوندله‌پښتني اخلا قو ځخه دی . تر او ښځه دواړ ه پاکه لمن لری‌اوعشق‌یی هم په عفت کی وی د(ښاد ی‌او بیبو) نقل زمو ږ دو ګړو په قصوکی شهرت لری . عاشقانه احسا- سات چی خورا تیز او تر هر شـه‌اثرنا ك او اغیزه لرونکی دی هم‌د پښتنوالی روح نه سی مغلوبولا ی.ښادی خو پر بیبو مین‌و او بیبو هم دده په مینه کی لیونی وه مګر د دوی عشق هم دعفت په‌سیور ی‌کی

وه او بیبو تر واده د مخه معاشقه ښکاره کول لوی پیغور او ناوړه کار گاڼه .ځکه نو چې یوو خـــت ښادی له‌بیبو ښځه خو له غواړ ی بیبو داخواست نه منی او ناره پرکوی:

چې دانښادی هلك وما یی تل اودی ځړی

اوس چې دانښادی رالوی شو نو له ما غواړی خولگی.

ښادی ولاړ ورك سو کهول یی‌توب‌پو هیړ ی او سخت پښیما نه کیږی او له‌ډیره خجالته‌اوعاشقا نه‌غیر ته له‌وطنه ورکیـږ ی . د ی غواړ ی چې ځان له‌پیغوره و با سی‌نو کلی کور پریږ دی او ځی.

ښادی ولاړ ور ك سو کهو ل یی‌پریښود بیبو خو دده په مینه کی سو ځیدله دفرا ق او بیلتا نه په‌لمبو کی مکوټ شوی‌وه یوه‌ور ځ‌چی دبکواړ دښت کاروا ن تیریږ ی‌نودبیبو خپل مین ښادی ور پـــه یادیږ ی و گور ی په‌ځه‌ارما ن ناره‌پری‌کوی:

( کاروانونه دبکوا ړ دښـــت تیریږ ی

ښادی ورسره نشته

په دانور کاروان می مینه نـــه‌ماتیږی

زما ارمان

ښادی می بلبلو) .

وگور ی یوه مینه چې د خپل‌مین‌سره دو نی مینه‌لری او بیله ده‌یی په‌چامینه نه ماتیږ ی بیا هم دد ه‌بی‌ځایه خوا هش نه سی منلا ی . ځک چې دپښتنوا لی ځلی ددوا ړوپه‌نظر ک ی‌ترعشق لا هم درا نه او مقدس دی.

پښتو داسی ډیر ی قصی لر ی‌لکه آدم خا ن اودرخا نی، مو من خان ا وشیرینو، جلات خا ن ا و شمایله، مو سی خان او گل مکی، توردلی او شا هو او نوری چـــی ټو لی دغه قصی دخلقو دروحیاتو او اجتما عی نفسیاتو رڼی هندار ی‌دی.

23

# د پښتو د نوی ادب لاری

داخو یو دروند او اوږد بحث دی چی اوس د وطن د پوهانو او د پښتنو دی خوا ته فکر سو یدی . او پر دغه موضوع کله کله څه مضامین هم لیکل سوی دی ځکه چی د غــــه خبری اوږ ده لمن لری . نو زما په خیال خو هغه څیړنی کافی نه دی ځکه نو می قلم راوا خیست چی دغه گرا نه او مهمه موضوع نوره هم پسی وڅیړم او د پوهانو د افکارو په ویسانو څه هم پرو لیکم پد غه څیړ نه کی به داد ب مهم پلوو نه روښانه کړه سی . زه زیار کاږم چی د ژوندیو ژوندی ادب او د خپلی ژبی پنگه او زوږ اسا س دوا ړه سره سم کړم . او مطلب می دادی چـــی خپلو پښتنو ته د پښتو ژبی د نوی ادب د پالني او روزنی لاری او چاری څه ناڅه و ښیم . گو ندی ز ماد غه خبری او لیکو نه پدغه لار کـــی

لوړې پل وګټل سي. او نـوردپښتو پو ها ن او هغه ادبا چې نن ورځ پښتو خوار ګي ددو ی لمنې ته لاس اچولی هم دې خواته و ګوري. اوپرېنـږدی چـې زموږ نـوی ادبـچي اوس دپسر لی دنوی غا ټو ل په ډول زر غوټېږ ی او زموږ لو ړ غرو نه دخندا او مسا را ډکوی د خودزوګل په شا ن شین سي او د باغوا ن له پالنې څخه یې لا سـ وخيږي . نو زموږ ژبه نوی راژوندی کېږ ی . زمو ږ داد ب نوی ستـې ایښوول کېږ ی نوی تخمو نه شیندل کیږي.

نن ورځ لیکوا ل اود قلـــم څښتنان د پښتوادب د بنې روزونکي او پالو نکي دی که دوی او س هم سترګی پټې ولاړ شي او په پو هې او سترګور توب دژ بې روز نه ونه کړي. نو خدای نه کوی دا زمو ږ ژبه په دژو ند پر ځای مړه شي یا به دنورو ژبو تر اغیزی دا سې لا ندی سي چې بیا به یې نوی تو کم اوزموږ زا من په چاره پور ی خیرا ن وي. په دغه مضمو ن کې زما مقصددغه دی چې دخپلو قلم وا لو ورو نو سره دنوی ادب په لارو او چار وباندی وغږېږم . له ټولو څخه هیله لرم چې دوی هم خپل افکار په ی خصو ص کې و نه سپموی . او په دغه لار کې مرسته وکــــړي. زه مخصو صا دپښتنو ښنا غلی اوسني لیکونکي او یا چې دنن ور خـې د پښتوعلمبرداران دوی دی او ټو لـه دپښتو میدان رابولم چې دو ی ز مادغه کرښې په غوروولو لی اوهرڅوک خپله رایه ښکاره کې که زه سهو ه سوی وم راته ولیکی ګو ندی تردغه منځ حقیقت ښه ښکار ه شي اوزموږدنوی ادب لاره ښه سمه سی که خدای کول.

## په مقصد پیل

دعلمي ټولنو او اکاډ یمیو مهم وظایف څو دغه دی ، چې دوی خپل وطني ادب و پالي اود هغه دارتقاءاولوړ تیا په لاره (۱) کې دنورو سره

---

(۱) لار ــ لاره درا په زور کې د(راه) په معنا هغه پښتو کلمه ده چې ځینې خلك یې لیار لیاره هم وا یې. ددې کلمې جمع (لار ی) ده پـــه معرو فه یا.

بله مشابه کلمه(لاره) ده چـــې را یې زور لري. او جمع یې (لارې) ده. په مجهو له اوږ ده یا. اومعنایې ده (نغمه ــ سرود) نو لاری راهها اولارې ــ نغما ت معنالري .

ددغو دوو کلمو اودوو بیلومعناوفرق په کاردی.

کومك او هم تشویق وکړی. کهڅههم هره ژبه څه نهڅه خپل‌یوزوړ ادب لری چی دهغی ژ بی اساسی عنصرگڼلکېږی. مگر بیا داښکاره ده چی نوی نسل نوی اد ب هم غوا ړ ی او اوس موږ ناچاره یوچی پهپښتو کی نوی ادبو لرو اوهغهشیا ن چی زموږ ادب پهروزل‌کیږی ویی پالو . ادیب ادب جوړو ی‌او ادب ملت وپښوی نود ملت دوپښتوپ او لوړ تیا دپاره د‌ادباوو روز نه لازمه ده که ادیب نهو ی نو به اد ب هم محوه سی . پدغه خبره کی هیڅ‌شك نشته چی موږ د خپلی ژ بی پښتو یو زوړ او خوږ مدو ن اوارت ادب لرو . او زمو ږ پیاوړ ی ادباء لکه خو شحالخا ن او رحما ن‌او پیر محمد او نور ... دد غه ادب استادا ن او مبلغین دی اودوی‌مو ږتهیوه خورا قیمت لرو نکی ذ خیره راپریښی ده . مگر دلته یوه بلهخبره هم شته چی که څه هم د غه زوړ ادب ځینی اساسی دپښتنوا لی‌او ملیت عنا صر لری او زموږدژبی زړه پنگه کښله سی بیاهم له بلی‌خوا شدیدا دپردیو تر اغیزی لاندی دی.

نوکه څه هم موږ د خپلو زړ و ادیبانو له لوړه مقا مه انکار نهلرو اودوی دژبی لوی روزو نکی اودادب‌پیشوایا ن اود پښتو دنا مو س ساتونکی بولو مگرسره دد غه هم پد ی زما نه کی موږ مجبور یو چی یوداسی نوی ادب هم‌و لرو چی‌هغه‌یو عصر ی ملی او متر قی اد ب‌وی متاسفانه له پخوا نیوزړو پیړ یو څخه دخپل جغرا فی مو قعیت په سبب پښتو خپل ملی اداب د پښتنوا لی ه مرهسم نه دی‌روزلی ځکه چی له هری خواپر دوی باندی‌دپردو مد هش سیلا بو نه را تله او دوی به تل د خپل ملی ژ وند‌په دفاع او جگړه بو خت وو او هیڅ فرصت یی دد غه ډول شیانو پالنی‌تهنهو میند لی . او س چی مو ږ په دی شیانو لا س‌و هو بنا یی چی دکار له ابتدا څخه و پښ یواوزموږ بناغلی ادبازیار وکاړ ی چی د خپل‌ادب ستهه بنه تینگه کړی زه بـه لاندی دپښتو دنوی اد ب لا ر ی ،چار ی دپو ها نو دافکارو پهاستناد ولیکم ، او مثالو نه به یی هم‌پر‌خپل‌مو قع و ښیم .

ادب دوی خواو ی او دوه اړ خه‌لری :
لومړی ـ دادب مو ضـوع ا و محتوا.
دویم ـ داد ب ظا هری شکل اوډول یعنی سبك او جوړ ښت.

## لومړی ـ مو ضوع :

دهر ملت داد ب مو ضو ع ځانله‌بیل عنا صر لری، چی له هغه‌چاپیر او ما حول او محیط څخه زیږی اودهغه ملت له روحه سره سموالی لری هغه اساسی لوازم او عنا صردغه دی.

الف ـ دجغرافی طبیعت‌لوازم: ښایی‌چی زمو ږ ادب دپښتو نخوا د طبیعی اوجغرا فی طبیعت مـحصول وی‌اودپښتنو دمځکو ښایست او ښکلی توب ښکاره کی اوزمو ږ د لو یـوجگو غرو ښکلی منا ظر او ز ړ ه ـ وړو نکی اشکال پردو ویو نکو ته‌ر... ...کی یعنی دپښتو اد ب باید دپښتنو د مینی دښیکړ و ډکه وی.

داروپا په ادیانو کی هم طبیع ادب په مخصو ص ډول دغه کیف لری ، او لو مړنی او لوی محر کیی دفرانس نا متو فیلسو ف‌منتسکیو (شپاړس سوه نهه اتیایم عیسوی ) دی ،چی په خپل کتا ب روح‌القوانین کی‌یی دجغرافیایی طبیعت پراهمیت‌یومخصو ص بحث لیکلی اودارو پا دادب مخ یی دغی خوا ته‌وگرځاوه.

دلته به زه یو ښکاره مثا ل‌زموږپه او سنی اد ب کی دروښیم . یو شاعر چی دښار اوسیدو نکی‌و دښار دجغرا فی طبیعت ترا غیز ی لاندی دی . هغه‌و خت چی‌دواوری‌اوریدنه پهژ می وینی نو دښاری تخیل‌په‌دنیاکی‌دیو نانی طبیب ددکان‌هغه لوی آونگ چی هر کله‌ناسفته مراوریه پکی زدو یی ور په‌یادیږی،او پدی ډول دغه حالت تصو یـر کوی.

برف است‌که از هوا سرا زیربود
یاهاو ن‌چر خ کرده حل مروا ر یـد

بالعکس یو پښتو ن چی دغرودتخیل په هسکه دنیاکی تل شعـر وایی دخپل چاپیر (محیط) اوجغرافی‌طبیعت‌سره سم پدی ډول هغه‌منظره راښیی .

پرلویو غرو واور ی اورینه
که لمر وړا نگی پر سپینو پرښوځلوینه

پدی لنډی کی پښتون شاعر یو خوړا ښکلی او طبیعی تخیل لری.د پښتو نخوا پر لړو او جګو غر و باندی دواوری داو ریدو منظر دی په حیرت کی اچوی چی آ یـــا دغه دلمر سپینی پلو شی ا و رونی وړانګی دغرو پر پرښو باندی لویږ ی او ځلیږ ی او که سپینی واو ر ی پر غرو پر تی دی.

وګور ی دغه تخیل یواز ی په جغرا فی طبیعت اړه لری اوزموږ په اد ب کی طبیعی او خوږ هم ګاڼه سی اود پښتنو روح ور سره آشنا دی.

نوشعراوویناچی هر څو مره پرجغرافی طبیعت سره او موا فقه وه هغو مره داصا لت له پلوه قدراو قیمت مو می اوده هغه ملت پرروح ژوره اغیزه کوی او ویو نکی ته یی ښه شاعر ویل کیږ ی .

## ب ــاجتماعی عنصر :

داد ب اجتما عی عنصر هــم ښایی چی کټ مټ ملی او خپل وی زموږ دنوی اد ب اساس بو یه چی پر هغه ډول ټینګ سی چی اجتماعی عناصر یی د پښتنو د ملــی روح اودپښتنوا لی سره سم وی ، داد ب اجتما عی عنصر دوه اړ خه لری .

## تیره زمانه او دماضی عنصر:

پدغه ډول کی دپښتون ملـــی فولکلور او کلچر (تهذ یب)روحیات عادات دودو نه ،اخلاق ،عنعنا ت ،رسوم او آدا ب ټو ل را ځی اودغه عنصر موږ دخپل روڼ تاریخ سره ښلوی ، او مو ږ دهغو ننګیا لیو نیکو نو او پلرو نو په ژو ندو ن خبروی ، چی دوی دیوه مخصو ص تفکر او تمدن خلاق او مبتکرو و . په اروپاکی دفرا نس مشهـــور لیکوال فلوبیر په خپلوکتا بو نو :(سلا مبو) او ( دروقصو) کی ا و توفیق الحکیم مصری په خپـــل کتا ب ( محمد ص) کی داد ب د غه عنصر ښه روز لی اود تیرو پلرو ژوندون یی په نوی ادب کی ښکار ه کړی دی.

زموږ په ملی اد ب کی هم له پخواځخه ځنی خوږ ی او قیمتی ... ه قصی او روایا ت پاته دی چی موږ دخپلو نیکونو او زړو پښتنو په افتخاراتو خبروی . دد غو ملــی آثارو ژو ندو ن او له ضیا عه ساتنه پرموږ لاز مه ده او ښایی چی زموږ په ملی ادب کی دغه ملی آثار ښه

ځای ونیسي ، او زموږ ادب دغه زوړ او پوخ عنصر وباله سي و لې
چې ډېری زموږ زړې ملي پټکي په دغو کې پرتې دي او دعوا مې روایاتو
او ملیت روح یکي پټ دی . زموږ ادبابايد زیارو کاږ ي چې دغه مړه
کیدو نکي آثار بېر ته ژو ندي سي او زموږ په نوي ادب کې یې پالنه
وسي .

دغسې هـ م زموږ نور ملي ښــه عنعنا ت اودودو نه اود پښتنوا لی
زاړه مزایا او ښیګړ ي تو له په نوي ادب ک ي روز نه غوا ړ ي اود نوي
ادب سته پردغو ښیګړو باند ي ټینګیږ ي . که ادباد ي خوا ته توجه
ونه کړي نو به زموږ د ژ بې نو ي ادب نا قص او له زړو افتخارا تـــو
څخه تش وي، او پښتانه به هیـــڅ مینه او دلچسپي نه ور سره لري.

**نوي عصر او نوي زمانه :**

پدې عنصر پوره عصـــــر ي احتیاجا ت اود نوي ژ و نـــــدو ن
تطورا ت او مفکور ي او مد ني حیا ت او اد بي او فکري آزادي اونوري
نوي خبرې او نوي علوم او فنو ن اړه لري . داد ب دغه اړ خ ملـــت
مستعد کوي چې دمد نیت صحیح او غیر مضر اساسو نه ومني او پر
دغه ډول نو ي توکم هم تربیه کي دغه عنصر مو ږ دنوي ژو ندو ن
اونوي عصر په دو دو نو خبروي او موږ ته داراښیي چې په نو ي
ژوندون کې به زموږ او ضاع څنګه وي او پر کومه لاره به روا ن یو او
او څه به کوو چې له سیالا نو سره سم سو او خپل نوا میس خوند ي
کړو.

دفرا نس په نوي ادب کـــــې دبالزا ك کتاب چې نوم یې(دانسانیت
داستا ن) دی او په او سني عر بي کـــــې د حداد کتا بو نـــــه ( نوي
آدم نوي حوا) داد ب دد غه عنصر ښې نخښې دي . امایوه بله مهمه
خبره هم شته . دغه نوي عنصر ښایي چې حتی المقدور او په خورا
زیار پرزاړه عنصر تطبیق سي چې ملت یې و مني اوددو ي له سمـــــو
عنعناتو څخه مخالف نه و ي . اوداد ب زوړ او نوي عنصر پدا سي
ډول حکیمانه تطبیق او یو ځای سي چې هر څوك یې په خو ند و لو لي
اود ملت په زړه کې دننه ځای ونیسي که فر ضا دغه دوه عنصره په خپل
ادب کې اوږ ه په اوږه سره و نه درو و . نو به زموږ داد ب یو اړخ
ګوډوي ، او هیڅکله به پوره اد ب ونه بلل سي . متاسفا نه زموږ ژبه

پدغه عنصر کی خورا بی وز لی دهاو گناه یی هم زمو ږ او هغو خلکو پهغاړه ده ، چی نن قلم ددو ی په لاس کی دی. مو ږ تراو سهپخپله ژبه کی پر نو ی سبك هیڅ ند ی لیکلی زمو ږ څلمی که څه لیکی هغه خو پهبله ژبه لیکي او خپله ژ بهیی کورټ هیره ده.

نن پرو ن ډیری اد بی ډرا مـیاوقصی لیکی یاتر جمه کیږی. مگر افسو س چی پښتو له دغواد بـی تحریکاتو څخه محرومه ده.

خو لږو ډیر د داستا ن لیکلو چهزموږ پیښنوریو وروڼو زده کړی د ی اود غه خوایو څو تکړه داستا ن کښو نکی لری .

ادبی او علمی ټو لنی ښا یی چیهر راز تشویق او ترغیب وکړی. چی زموږ ژبه د عصر د ادبیآثـاروخاو نده شی . هر څو مره چی موږ پهنورو ژبو کی کمال ښکاره کو اوماغزه و خورو هغه خو د هغوژبوپر سرما یه زیاتیږ ی ، پښتو خوارکیته خد مت ندی .

## ج– اقتصاد ی اود ژ و ند عنصر:

کهڅه هم ادب دیوه روحا نـیخو ندو سیله ده. او ډیره بر خهیی دنفیس هنر خوا ته ځی . مگر بیاهم په حقیقت کی دژو ندا نه سره ټینگهرابطه لری، او که اد ب له ژونده بیل سی . نو بـه یـوازید روحانی خو ندو سیله وی، او پـهاو سنی مادی ژو ند کی به بر خه ونهلری. او سنی مد نیتاودانسانانوفکری یو ن(ژو ند اوماده) دا سی رابرسیره کړی دی ، چی ټـو لهنرو نه او نفیس صنایع اواد بفقط دهمدی له پاره غواړ ی ، چی په ژو ند کی ددوی په کار ور سی او په مادی او اقتصاد ی لارو چاروکیدوی تهگټه ورسوی پخوا اد ب په خپله یو څغلند آس و ، چی خپل سپور بهیی هغی خواته چیغو ښت بیوی او انسان به دادب تر ملونو لاندی حرکت کاوه . مگر او س ادب دیوه ملونی شوی آس پهتو گه پر هغی خوا ځی چی انسا ن یی دخپل ژوندانه او مادی ښیگړو له پار ه وغوا ړی اوداکار او عمل پر ډ گر ورسره ملگری وی .

اوسنی انسا نان وا یی : چید ادب روحانی خو ند هم په دی کی دی چی دانسانانه سره دکاراو ژوندپر ډگر کو مکی او مل وی او د مادیژو ند له پاره گټور شی دادبدغه نویتو جیه خو داسی ده چـی

موږ هم ستر ګی نه شو خنی پټولای ولی چی موږ هم ژو ند غوا ړو اود خپلو اقتصاد ی او مادی اړ تیاوو په جال کی نغښتی یو .

دپښتو نوی اد ب حتما د غــــه څوا ن عنصر هم خو ندی کوی. که نه و ی دیوه مړه ادب بړ ستن کی دمړو سره ځان نغښتل دعا قل سړی کار ندی .

## ۲ ـــ دلیکوا لی اصول او سبک:

ادب اساسا دوی مهمی بر خی لری نثر او نظم.

نثر : څکه چی زموږ عصر ی احتیا جا ت اود مدنیت او کاردنوی ژوندو ن چار ی اولاری ټو له په نثراړه لری او په علمی او فنی منثو رو کتابونو سره مو ږ علوم او فنو ن خپرولا ی او صنعت او حرفت ښوـ ولا ی او روا جولای سو . نو زما په فکر تر نظم نثر ته ډیره تو جه لازمه ده. بنایی چی دپښتو په نثر کی یوداسی سبک او ډول جوړ کو چی د افاد ی او استفاد ی سهو لت یی مهم مقصد او عنصرو ی یعنی دنثاری او قافیه طراز ی له ګرانو او مغلقو ډولونو څخه پاك وی اودپاړ ســی له وروستی مغلق هندی سبك څخه لیری وی . دنثر لیکلو په ډول او سبک کی دی خبرو ته کتنه ضرو ر ی ده.

الف ـ له ښه مر غه تر او ســه دپښتو تقر یر او تحر یر یعنی ویل اولیکل دپاړسی او عربی ژبــو پـــه راز سره لیری او بیل نه دی. هرڅه چی په خو له و یل کیږ ی کټ مټ په قلم لیکل کیږ ی . دپښتو د غه خپل طبیعی او خدای ورکړ ی ښه سبك بنایی چی و ساتل سی او زموږ ادبایی تقو یت و کی . نه ښا یی چی دسبك هند تخیل یاد میرزا مهد ی او بید ل دنثر ډول مو ږ په خپله ژبه راګډ کو زمو ږ قلم وال پښتا نه بنایی چی د ترجمی پر وخت هم دی دی خبری ته فکر وکی چی خپله ژبه دنورو ژ بو تر اغیز ی نه کــــی لاندی، بلکی هر کله هغه مطا لـــب پداسی ډول ادا کی چی دپښتو له محاور ی او خصو صیاتو سره سم وی.

دپښتو دغه طبیعی خپل سبــــك چی ویل او لیکل یی سره بیل نــه دی . دښوولو او زده کولو په ټولوڅا نګو کی خورا غنیمت او ښه دی.

زموږ لیکونکی دی سره له اوسه دی خواته ملتفت وی ، چی دژ بــی دانشاء دغه بی آلا یشه اوسپیڅلی ډول دنورو ژ بو دتکلف او تصنع

په‌تقلید خیر ن او کرغیړ ن نه‌کی.چی پد غه ډول لیکنو کی هم زموږ پیښور ی ورو ڼه د مخه دی ، او دحجری ژبه‌یی دلیکنی له پاره هم غوره کړی ده.

ب- دلغاتو او محاورا تو په‌غوره‌کولو کی ښایی چی د پښتنوډڼو لو پر ګنو دذوق مراعات و سی. یعنی‌ښایی موږ په پښتو کی یو ګـــډه سبك و مو مو چی دغه سبك ټو له‌پښتانه ذو قا و منی . که څو ك د یوی خوا لغا ت او محا وری واخلی‌اودنورو داپریږ دی . البته د غــه سبك ټو له پښتانه نه سی منلا ی.مګر په لغاتو او محاورا تو کی څو هغه افضل اود غوره کولو وړ دی،چی دپښتوژ بی دخصو صیاتوسره ښبت او نږدیوا لی ولری . اوداد ب‌په‌قالب کی ژرترژره راتلا ی شی . سوات :و باجو ړ بیاتر ننګر هاره‌او پیښوره له جنو بی خوا بیا تر شلګره او مقره دسلیما ن دغره لمنوبیاد کوږ ك او قندهار تر ر غواو ډنډو نو له کاکړو او ښوراو که بیاترسیستان او فراه او تایمنیــــو، پوری دپښتو ژ بی هغه ذخا یرسته‌چی‌پلټنه‌یی دادباوو او ادبی ټو لنو کاردی .څو چی دپښتو نخوا ټو له‌لغات او محاور ی اودتکلم اصو ل دقو مو نو دژ بی دمخصو صومزایاوسره را غونډ نه‌سی ، او له هره‌چا څخه دهغوښیګړو اقتباس‌ونسی . البته دپښتو غوره مسلم سبك هم جوړ ول ګرا ن دی. څوك چی په‌یوه‌کو ټه کی ناست‌و ی دیوه قوم‌دژبی مقدرات نه‌سی فیصله کولای او نــه‌صلا حیت‌لری . دلته یوه خبــــره خورالاز مه ده. مطلب داندی چـــی‌پښتانه یودبل مزایانه سره منی.یه، یه، یه زه وایم چی د پښتو سو چه‌او کره لغاتو او محاورو ښه ذخیره دننګر هار په غرو یاد جنو بی خو:په‌ر غو کی پر ته ده .زه منم چی‌د پښتو دادب ډیر روزو نکی زمو ږهغه ننګیا لی پښتانه دی ، چـــی دوی دخیبر دغروشاو خوا یادپیښوراوننګرهار اود کسی غره او پښین او ږوب په‌پاکو او آسمانی غرو نوکی اوسی .

که‌څوك درحمن‌بابا ، یادخوشحال‌خان او پیر محمد کاکړ او نـــو رو ښا غلو پښتنو ادیبانو زیار او د پښتو سره مینه هیروی ، هغه دی په‌غبر ګوسترګو ړو ند سی .

دوی زمو ږ دملیت دبنیاد کا ڼی‌ایښی دی. دوی هغه غیوراوننګیالی پښتانه دی ، چی خپله ژبه یی‌دپردوله اغیزی ساتلی ده . او س که‌موږ

دژبې اد بې ذخیره یا خصو صي مزایا او ښیګړ ې لرو هغه خوډیر زمو ږ ددې ننګیا لیو ورو ړو پــه تترو کې دي.لنډه يې داچې داختلاف هیڅ خبره نسته ، نه‌وه او نه به وې . دقندهار دا مشهور ه خبره دلته صاد قه ده . چې مو ږ دلې وودلې به‌یو اود لې او سو) اما پــه پلټنه تتبع او ګروېږ نه کې مقصدداده چې دژ بې مزایا و ور کــې ښیګړې غو نډې سې ګو نډې .موږتر ښه ډېر ښه ومو مو او له افضله افضل تر ته‌ولاړ سو او له کا مله اکمل لا س ته‌راو ړو. خود ژ بې حقیقي مزایاله هرې خوا او هره ګوټه راغونډ کړو او پد غه ډول هم زما په‌عقیده دپښتو یو متحد سبک‌مېندل کیږې او بس .

ج- زمو ږ په ژبه کې او ســـ ډېر پردي لغا ت او کلما ت ګډ دي چې دغه هم دځینې طبیعي عوا ملـواثر دي اوددنیا هیڅ ژ به له دغــه اختلا طه نده تشه ځینې خلق د غه‌دپښتو لوی نقص بو لي مګــر افسو س چې دوی نورو ژ بو ته‌نه‌ګورې په دنیا کې به دا سې ژبه نه وي چې دنورو ژ بو کلمې يې نه وي‌اخیستې .داخو دانسانانو داجتماعي ژو ندو ن او بین المللي ګډ و ن یو طبیعي اثر دي اود طبیعـــت دسیر په مخکې څوك نه سې‌درېدلای‌ددنیا په مهذ بو او لوړو ژ بو کې نن فرا نسوې خوز اشهر ت لري.الفرد فویه (اتلس سوه دولسم نه تر اتلس سوه اته دیرشم ع )نامتوعالم لیکي چې پدې ژبه کې درې‌زره او اته‌سوه لاتیني او شل جر مني‌اوپنځوس ایتالوی ، یوزرو پنځـــه انګریزي ،سل اسپانوي، یو سلو لس سا مي ،شپږ سوه پنځو ســ مجهو ل او نور ډېر پردي ی کلمات‌داخل دي . یعنې له اوه ویشت زرو کلمو څخه تقر یبا شپږ زره کلمې‌ددې ژبې پردي دي (۱).

**په مشر قي ژبو کې خو عر بي‌خورا ارته او مهذ به ژبـه ده کـه‌د خوارزمي مفاتیح العلو م اوداحمدجوالیقي (پنځه سوه نهه دیرشم هق) المعر ب اود شهاب الدیــن‌خفا جي شفاء العلیل اودحریر ی درت‌الغواص اود علا مه سیو طـي المز هر و کتل شي نو به تاسي ته ښکاره شي چې پد غه ژبه کې‌څومره کلمات له نورو ژبو یعنې له‌پارسي لاتیني ،عبراني ، سر یاني ،حبشي،سنسکریت، چیني، قبطي او نو رو**

**(۱)داروپا د ملتو رو حیا ت د مر حوم شایق تر جمه پنځه دیرشم مخ**

څخه راغلی دی اود غی ژ بی پهځانکی دخیل یا معرب کړ یدی . د یر کلما ت دپاړ سی او عر بیتر منځ‌مشترك او ځینی بیاخا ص له‌پاړسی ژبی څخه عربی ژبی اخیستی‌دی (۱)چی‌دعربی ژ بی پو ها نو هغه بیل بیل ضبط او لیکلی دی .

داکلمات کله عربو په خپله ژ به‌کی معرب کړی او کله یی کټ مټ بیله کو مو اړولو اخیستی دی لکه‌خرم او کرکم (۲).

دغو بی او شر قی مشهو رو او مهذبو ژ بو مثالونه می ددی جهته زاوړه چی هغه خلق چی داوا یی‌چی په‌پښتو کی دپردیو ژ بو لغـــا تو ګډون ګړی پدی و پو هیږی‌چی‌دغه‌کار علما نقص نه بلل کیږ ی . او په پښتو پوری یی یوازی‌ونه‌نښلوی‌زه‌داعقیده لرم او اثبا ت ته هـــم حاضر یم . هغه کلمی او لغا ت چی‌زمو ږ په ښارو او مد نی کلو کی‌د پردیو ژ بو څخه داجتما عی ګډو ن‌او عواملو په سبب پښتو ته راغلی دی په مقـابل کی یی دپښتو سوچه‌او کره او یواز ی پښتو کلمی هم‌په غرو او رغو نو کی شته نو ځکه په‌دغه بحث کی زه خبره پر څو بر خو ویشم .

۱ ـ دپردیوکلما تو په مقابل‌کی‌او س مو ږ ډیر غیر مستعمل پښتو لغات لرو چی لمښا رو‌څخه یـــی‌هجرت کړی دی . داکلما ت مو ږ ته ښکاره هم دی. ښایی چی ز مو ږ ادبایی بی له اضطرا به وا خلی او استعمال یی کی .مثلا دسیب پـرځای منه دلباس په ځای کالی‌دسایی پرځای سیوری او نور.

پدی ډول به زمو ږ ډیرمهجور او متروك لغا ت بیرته مستعمل او ژوند ی شی ځینی داسی پر د ی‌کلمات او لغات هم سته چی او س دستی یی موږ په مقابل کی پښتولغت نه‌و ینو او ښاروا لو ته یی‌پښتو کره لغت معلوم ندی . دالغا ت بایدژر ترژره فهر ست او ضبط سی ، وروسته نو بیاد پښتو نخوا په ګوټ‌ګوټ کی پلټنه و سی زما ټینګـــه عقیده ده چی و مړی خو به‌یی‌دپښتو کره نو م و مینده سی که‌نه‌و ی نو

---

(۱) وګوری ، ادمام ابی منصورالثعا لبی (څلورسوه دیر شم قمړ) فقه اللغه څلور زره پنځه سوه‌پنځه دیرشم مخ .

(۲) دابو بشر عمرو احارثـی‌سیبو یه دیوسلو اتیایم کال مړ دوه سوه دوه څلویښتم مخ .

مغفن کلمات یې ضرور لا س تــه راځي . دسوا ت او باجوړ له غرو
څخه بیاد سپین غره ترلمنو ا و د سلیما ن دغره په لمنو اودکاکړ و
په خواوو کې ډیر کره لغات ستــه باید دد غولغاتو دپلټنو دپارمدذوق
دخاو ندانو یوه سیاره او ګرځنده ډله واستو له سي یا له د غو ټولو
ځایو څخه څوش تنه راو غوښتـــل سي چې لغات او کلمات ځنې ضبط
سي.

پدې ډول ډېر ډیو کلماتو پــ ه مقابل کې به مو ږ ضرور ښبنتو
کلمات و مو مو اود غه به ورو ورو رواج کو. که مو فرضا کو مه کلمه
نه کره پیدانو بهیې میندلو پور ی عجالتا هغه عر بی او یاپاړ سی کلمی
وایو چې کره پښتو میندله کیږي.

۲- هغه کلمی او نو مو نه ،چېنوی زماني زیږ و لی دی تراو سه
یې په عر بی او پاړ سی کې هم ځپل نو مو نه نسته اودنوی مد نیت له
خوا هره ور ځ زموږ کره را ځي .دانودپښتو دخواخوږو پو ها نو کار دی
چې دژ بی دخاو ندانو او اهلو ا و محتاطو خلکویوه ټو لنه بهور تــه
جوړه ی چې پدې باب لو مړ یوارتر یوه صحیح پروګرا م لا نـــدی
فکرو کې او په نورو ژ بو کې د لغاتو دو ضع اصو ل او علمیقوانین
وګوری . دپښتو دلغاتو دریښو او جوړ یدو تحقیقا ت وکړ ی دپښتو
دپښتو دخصو صی او اصلـــــــیمزایاوو سره سم ددی ژ بی زاړه
دفقه اللغه او فقه الصو ت ا صول دنورو ژ بو له نوو او ز ړو دوضع
او لغات ساز ی سره مقابله کړ ی ورو سته نو په اتحاد او یوه فکر
وضع ور ته و کې او ورو ورو دیوضع کې کلمات خپاره اومستعمل
کړ ی. دپښتو پو ها نو فکري اتحادپدغه ځای کې خورا ضروردیاوسړی
حقه نه لری چې دټول قوم دژ بی لهپاره نوی شیان و ضع کــړ ی او
او س که مثلا یو سړ ی یایو فکر پدغه کې اقدام وکی هیڅو ك یې نه
سي منلای او نتیجه یې په ژبې کې ګډوډ ی او اد بی ورانی دی .

نظم :

دپښتو نظم هم په نوی ادب کې دوه پلوه لری. لو مړ ی پلو یې د
شعر او منظو ما تو مو ضو ع ا و محتواده چې ادیب بهټول هغــــه
لواز م او عنا صر چې د مځه مــودمو ضو ع په بحث کې و لیکـــل

گور ی او مراعات به‌یې کوی ،یعنی‌دپښتو نو ی شعر به دپښتو لــه سپیڅلو او تودو احساساتو د ک وی اوددو ی ژو ندو ن او پاك‌عوا- طف به‌ترسیم کوی او ټو له هغه‌طبیعی او اجتما عی او اقتصاد ی حیاتی عنا صر به‌په نوو اشعاروکی‌پرانت وی.

نوی شعر به د پښتو اوپښتنوالی‌دلوړی او آسمانی دنیاځخه‌زغیږ ی او هغه محیط به دنیا ته ور څرگندوی چی هلته افغانا ن په ما دی او معنوی څپلوا کی د ملیت په غروراو دروح په مناعت او لوړ تو ب د افغا نیت له تودو احساسا تو ا وشر یفو عوا طفو سره ژو ندو ن‌کوی یعنی دتخیل خوایی ښا یی چی‌ښپېره انسانی او پښتنی وی او د پښتو اشعار ددو ی ښه خوا ص‌اوښیگړ ی ښکاره کوی .

پښتون شا عر هیڅکله ځان نه‌بایلی دمزاج استقلال او خود ی‌ملی غرور دمینی په‌سو ځوونکي د نیا کی هم له لا سه نه باسی یعنی د ځان کښته وا لی او سپیتانه کورت‌نه منی دپښتو داد ب پـــلا ر خوشحالخان وا یی :

مرگ لره واړ ه دد هلی لښکری‌را غلی
ته لا دخوشحال په‌مرگ روغ نه گنی ننگ کړی

وگور ی پښتو ن شا عر په عین‌هغه حال کی چی دد لدار دلا سه مرگ غوا ړ ی بیا هم څپل غروراودروح مناعت نه کموی او ذلـــت پر ځان نه منی محبوبا ته یو وا ر څپل پښتنی اهمیت او درو ندوالی ښیی ورو سته په خوراشاعرا نه انداز دقتل تمنالری.

دغه مافقط یو لنډ مثال ووا یه‌چی‌دپښتو ن دملی روح ممیزه ده اود نوی ادب په مظا هرو کی یی احیادنو و ادیبانو پر غاړ ه ده دپښتو زوړ ادب که څه هم دپردو تراغیزی‌ډیر لا ندی دی . مگر ډیر ځله‌دغسی دملی روح تجلیا ت او رڼاو ی هم‌په‌کی برینښی .

وگوری‌ء د پښتون شاعر د ملی‌روح صلا بت او کلکوا لی‌دخوشحال ځان له دغه تخیله ښځگه برینښی .

دعالم ډیر ی خبری لور پرلور توری لښکری
زړه می نه خو ځی‌له‌ځایه غر خو هسی‌وی که‌نه‌و ی

ددی مضمو ن درو ندوا لی ا و ثبات وگوری ء د شاعر چی څپل‌ملی روح قوی او غښتلی و ی اوڅپله قو می پنگه یی کلکه او تکړه وی‌نو

کله ددنیاد حواد ثو او ویرو نوا وآلاموخخه نارې و هي . یه پدې ، کورتې ځان نه بایلي دده زړه لکه غر له متانته له ځایه نه خوځي.

دادې زمو ږ دملي روح تجلیات،زمو ږ په زاړه ادب کې چې او س یې باید زمو ږنو ی ادب ته لـــبه بیرته ژو ندی کې او هغه کر غیر ن او ناوړ ه آثار چې دپردو له‌تقلیده‌زموږ د ب کې لیدل کیږ ی بنبا یې ته له لکه پردی عنا صر بیر تـــــه‌واخیستل شي او زموږ سپیڅلی‌روڼ ادب له هغو تیارو څخه و ژ غور ل‌سي دا خو زمو ږ دنوی اد ب ، د موضوع پلو وچې لږ څه‌مو وڅیړ ی‌او س به نودو هم پلوو پلټو چې هغه نو ( اوزان ، قوا فی،عروض، بحور) دی.

زمو نږ زوړ نظم او شعر خو لږ څه دپاړ سي او عر بي عرو ضو او اوزانو په قالب کې لوید لی دی‌مگر‌ردی دمخه یې خپل خصو صـــی اوزا ن او عرو ض در لوده چې هغه‌تراو سه خو نېبختانه زمو ږ په‌غرو او رغو کې سته او اکثر دپښتو اشعار خپل خصو صی اوزا نلر ی مگر له هغه و خته چې دعر بي ژبي‌عرو ض او اوزا ن زمو ږ ژ بې ته را غلي دی ځکه چې د ملت له رو ح سره نه پیداکړ ی او ملي ر نگ یې منلی دی . له دی جهته نواوس‌دتابعیت حقو ق بشپړ لری او ملی دول ته نږدی هم گڼل کیږی اونــه‌سو کولا ی چې دغه دسوو کالو د ادباوو زیار بې څه او بې گټـــــی‌وبولو اوددو ی قدرونه کو .

یه‌یه ! زمو ږ زړو ادیبانو ژ یارکښلی . او ډیره خوږ ه اد بی پنگه یې مو ږ ته‌پرې ښبی د ه او دو ی‌په خپل ملی اد ب کې یو خور اقیمتی باب هم زیات کړ ی دی پر ملي‌او زانو یې سر بیره د عربی بحرونواو عرو ضو ته نږ دی ذخیره زمو ږ په‌ژبه کې رازیا ته کړ ی ده او زمو ږ شعر او اد ب یې په ښکلی کړ ی دی‌ددو ی زیار هر کله مشکور او نه هیریدو نکی دی.

مگر موږ او س غوا ړو چې‌زمو ږشعر دی یواز ی ،په هغو بحو رو او اوزانو کې محدود نه وی‌ښا یې‌چې خپل شعر ته دنوی‌زما نـــی سره سم زته لمن‌ود کو. د قدماوودزیار زړ ه او خوږ ه پنگه خو لرو نوی اد ب هم بو یه چې د غه پنگه‌زیاته‌کی او په هغه زاړ ه گوټ کی یې محدوده او محصوره‌نه‌پرېږ دی.ځکه چې مو ږ خپل او مخصو ص عرو ض او اوزا ن هم لرو .په‌پښتوکی ډیری لنډ ی سندر ی ، نیمکی،

ټپکی ، چار بیتی ، بد لی او ناری‌سبته چی هر قسم یی بیل وزن او عروض او بحور او قوا فی لری.دغه ملی ادبی ما ثرتو له زمو ږدنوی ادب دشعر اساس کیدلا ی سی . که ادبا دغه اوزا ن قید او ضبط کی البته یو داسی علم العرو ض چی‌دخلیل بن احمد ترعرو ض به ډ یر رت او وسیع وی و مو مو اوداکارخورا سهل هم دی. هر پښتو ن ته دملی بدلو او ملی ترانو او سندر واوزان معلوم دی فقط تو لول‌اوتدوین غواړ ی که موږ کلیو ته ولاړ سو یادغرو دخلقو زړه وړو نکی ږغو نه او ناری واروو داسی ډیر آثار به‌ومو مو .

هو !زمو ږ مطلب دا هم ند ی چی خپل پخوا نی او زاړه آثار به پریږ دو . بلکی مقصد دادی چی د خپل ادب لمن‌یکی محدو ده‌نکړو . هغه زړه مدو نه سر مایه‌خومو پـه‌لاس‌کی‌ده .او س به دخلکو دبدلو او زانو په تدو ین او زوا ج هم بوخت سو اوداد ب لمن به خورا پراخه او ارته‌کو.

داخبره دکړو وړو ده چی دد ی‌سند رو او بدلو او لنډ یو لکـــه اوزا ن چی یی زمو ږ علم العرو ض‌ته خدمت کوی هغسی هم دد غـو سندرو ږغو نه او اصوا ت او تغنی‌زمو ږ دمو سیقی نمو نه کیدای ، سی نو که یی ترتیب لږ څه پـــز علمی ډول‌سم‌سی‌او تدوین او ضبط سی نو موږ به د هندی مخر ن اوروح وړو نکی مو سیقی څـــــه خلا ص کی اود خپل رو ح سره‌سم‌به‌یوه ژو ند ی او غور ځاند ـــــه مو سیقی ومو مو .دا څیر نه دنوی‌ادب پر تشکیلا تو لږ څه اوږ ده سوه خو تراو سه لاهم‌څیني‌دویلو وړ خبری پاته دی، مگر دنه‌اوږدیدو په‌لحاظ دغه څیر نه او ســـــــــ لنډوو او غوا ړو چی دنوی اد ب او صا ف او لواز م هم و ښیو چی‌څوك دیوه ژو ندی او متر قی‌ادب دجوړولو دپاره په پښتو کی خدمت‌کولای سی او زمو ږ دڅ بی نو ی ادیب څوك دی څه صفتو نه‌لری.

## دپښتو نوی ادیب به څوک وی ؟

۱ ــ هغه څوك چی پر لا ژ مــــه‌معار فو احتوا او ددنیا په ادبیاتو کی‌عصر ی معلوما ت لری د پښتودزاړه مدو ن او غیر مدو ن ادب سره آشناوی اود مشرق ادبی علو م هم‌لږ ور ته معلوم‌وی.

۲ هغه څوك چی داد پ‌دموضوع‌عنا صر او لواز م لکه چی د مخه مو یی‌یادو نه‌و کړه ور ښکاره وی‌یعنی‌دخپل ملت په جغرا فی طبیعــــت او اجتما عی او اقتصاد ی عنصــــرپوهیږ ی او په ادب کی یی دمراعات اقتدار هم ولری.

۳ ــ دنوو مفکورو دتطبیق ا وتحلیل او تدقیق قوه ولری چــی جدید مطالب دملت دروح اوعنعناتواو اجتما عی عنا صرو سره‌سمولای سی او ځان نه پکی بایلی یعنی‌دادب‌ترقی او تجدید دملی‌روحیا توسره تطبیق کولای سی اودنوی متر قی‌فکر دراو ړ لو قوت ولری.

٤ ــ دافاد ی او استفاد ی قوه‌یعنی دقلم زور او ادبی تلقین چی آخذه او دافعه قوه هم ورته‌و یلا ی‌سو نوی ادیب باید په خپلــــه دښیګړو دجلب او پو هنـــی او ، اخیستلو قوه و لری چی بیانو هغه مزایا ملت‌ته داد ب له خوا تلقین‌اوتبلیغ کی.

٥ ــ دکار ذوق اود پښتو ا و پښتنوا لی سره دزړه او شخصــی مینه و لری مطلب دادی چی په ادب‌کی سوداګری ګټه نه‌کړ ی په خپل ذوق او عقیده او شوق کاروکړی اود غه خدمت یواز ی دنو کری په ډول نه‌و ی بلکی دزړه مینه هم ورسره ولری هر ادبی خد مت چــی کوی او یا هره پدیده چی منځته راو لی او نوی اد بی ایجاد کوی‌نو دی له سره خپله جا معه او خپل خوار او بی‌سیکه او بی ډوډی اوبی

کالیو خلق په ذهن کی مجسموی او خپل ټول ادبی زیار او مښو د له دی چار چوبه و نه باسی . ځکه‌چی دنن ور ځی غو ښتنی له‌اد په هم په دی ډول دی او که چیری ادیب له دی شروطو مخالفت و کی نو په هغه دنن ور ځی ادیب نه‌و ی او هسی پاڼنی به توروی ادبی ایجادا ت به یی دخلقو او جا معی او ژ بی په دردو نه خور ی . که چیر ی ځموږ ننني ادیب دغه خبری په پام کـــی ونیسی او خپل ها ند او هڅه ادب او ژ بی ته دخد مت په لاره کی داسی پر مخبوز ی چی هر شعراو هره منثوره ټوټه او هراد بی تحقیق یی ددی محرو مو خلقو له حا لـــه حکایت وی او زمو ږ ددی طبقا تی جا معی انځوروی نو به یی آ ثا ر زمو ږ دژ بی په ډیرو ښو آثا روکی شمار ی او هم به زمو ږ ژبه پـــه هیو منستی ادبیاتو بډایه سی .

## روحی او معدی ادب :

پدی عنوا ن د مصر یومشهور ادیب په الثقافـــة کی یو خورا ژور او محققانه مضمو ن کښلی و ځکه چی دلته زمو ږ له مو ضو ع سره نښت لری نو یی مطلب لنډلیکو. داچه ادب پر دوه ډوله ویشی:

## روحی ادب:

چی دذو ق او احسا س اودانسا نی ښو جذباتو څخه زیږ ی او محرک یی فقط دانسان زړ ه اودد ه ښه عواطف وی دکو می شخصی ناو لی ګټـــی سره ربط و نه‌لری.

## معدی ادب:

چی ددنیا وی متاع او پیسو دپاره وی او محرک یی مادی منافع او بد شمهر تونه وی او فقط دګیډ ی دخد مت له‌پاره ادیب قلم چلوی او یا مضمون لیکی . یعنی سوداګر ی کوی او پیسی تری نه باسی. لکه

بخوا نی دد باری تالی شو شاعرا ن چی دواړ والا نو په ستا ینه کی به یی دیوخو پیسو ټکو له پاره اوږ دی اوږ دی قصیدی ویلی . لو مړ ی . ادب ژبه ژو ندی کوی او دا چتما ع دسمو ن له پاره لو یه و سیله ده اما دو هم ادب خوراتور اولغو ړ ندی اود ژ بی په ژ و ندون کی هیڅ فایده نه لری او نه یو ملت ویښولای سی .

نو نن ور ځ هم په پښتو کـــــی داسی ادبا غوا ړو چی دذو ق، بشر دو ستی او پښتنی احساس په تحریك پښتو ته خد مت و کی . اوماد ی منافع تر بشری او رو حی متا ع جارکی اوړد غه کارسره مینه ولری یعنی دی بڼه بشر دو سته رو حی ادیب وی نه یواز ی معدو ی ادیب . تردی ځایه مو دپښتو پر نو ی اد ب اود پښتو پرملی ضروریا تو اوعناصرو باندی څه ځیر نه وکړه که څه هم مو ضو ع هری خوا ته ځا نګی لری مګر چی اوږد نه سی دلته یی پای ته رسوو .

په پای کی دو نی وایو چی نوی ادیب باید فقط په ژ و ندانه پوری اړه ولری اوډ خلقو خد متګارو ی نوا ی نوی ادیبه:

دغ ګر ه ما ته چی ژو ندو ن می په نصیب سی

را ته مه وایه دمر ګ ز ړی سندر ی.





# علامه

# پوهاند عبدالحی حبیبي

د هیواد نومیالی عالم، مؤرخ او ادیب (لیکوال او شاعر) علامه پوهاند عبدالحی حبیبی د ۱۲۸۹ هجری لمریز (۱۳۲۸ هـ ق - ۱۹۱۰م) کال د پنجشنبې په ورځ د ثور په میاشت کې د کندهار د ښار د بامیزایي په محله کې په یوه عالمه او فاضله کورنۍ کې وزیږید. پلار یې ملا عبدالحق اخوندزاده د خپل وخت نامتو عالم او د مشهور عالم عبدالرحیم اخوندزاده زوی او د علامه حبیب الله محقق کندهاري لمسی و.

استاد حبیبي پر ۱۲۹۹ هجري لمریز (۱۹۲۰م) کال د کندهار د شالمار په لومړنۍ ښوونځي کې شامل او ددې ترڅنګ یې په خصوصي توګه د مروجو دیني ادبي علومو او فنونو زده کړه هم پیل کړه.

په ۱۳۰٤ هجري لمریز (۱۹۲۵م) کال له نوموړي ښوونځي څخه فارغ شو. په خصوصي توګه یې د دیني او عصري علومو او فنونو لوستلو ته دوام ورکړ، فقه، حدیث، تفسیر، منطق، صرف، نحو، فصاحت، بلاغت او د نړۍ د مشهورو پوهانو او ادیبانو د نظم او نثر ډیر کتابونه یې ولوستل.

پر ۱۳۰٤ هـ ش (۱۹۲۵م) کال علامه استاد حبیبی د ۱۵ کالو نوی زلمی وچې د کندهار د ښار په یو ښوونځي کې یې د ښوونکي په توګه خپله رسمي او دولتي

وظیفه پیل کړه. څه موده په همدغه دنده بوخت و، په ۱۳۰٦ هجري لمریز (۱۹۲۸م) کال په کندهار کې د خپریدونکې جریدې«طلوع افغان» مرستیال (معاون) شو. څلور کاله یې په ډیره بریالی توګه دغه وظیفه تر سره کړه او بالاخره پر ۱۳۱۰ هجري لمریز (۱۹۳۱م) کال د طلوع افغان د جریدې مسوول مدیر شو.

استاد حبیبي په همدغه موده کې د خپل مطبوعاتي او ژورنالستیکي کار ترڅنګ په پرله پسې توګه مطالعې، علمي، تاریخي، ادبي او څیړنیزو (تحقیقي) لیکنو ته هم دوام ورکړ. پر ۱۳۱۹ هجري لمریز (۱۹٤۰م) کال کابل ته را وغوښتل شو او د پښتو ټولنې لوی مدیر مقرر شو او ترڅنګ یې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مرستیالی چارې هم پر مخ بیولې. پر ۱۳۲۰ هجري لمریز (۱۹٤۱م) کال د معارف د وزارت مشاور شو او درې کاله یې دغه دنده تر سره کړه. کله چې پر ۱۳۲۳ هجري لمریز (۱۹٤٤م) کال د کابل پوهنتون په چوکاټ کې د دوی په هلو ځلو د ادبیاتو پوهنځی تأسیس شو، نو د ریاست او پښتو ادبیاتو د تاریخ د تدریس چارې دوی ته ورو سپارل شوې. پر ۱۳۲۵ هجري لمریز (۱۹٤٦م) کال په چمن کې د وکیل التجار افغاني په حیث مقرر شو. یو کال وروسته بیرته خپل هیواد ته راستون شو او په ۱۳۲۷ هجري لمریز (۱۹٤۸م) کال د ملي شورا د اوومې دورې له پاره د کندهار د خلکو د وکیل په توګه وټاکل شو. تر ۱۳۳۰ هجري لمریز (۱۹۵۲م) کال پورې یې دغه له مسؤولیته ډکه وظیفه په ډیر ښه شان سر ته ورسوله. د همدغه کال په اوږدو کې د هیواد پالنې او آزادۍ غوښتنې د سیاسي مبارزې په سبب جبراً د خپل هیواد پریښودو ته اړ کړای شو، او نږدې لس کاله یې په جلاوطنی کې تیر کړل. څه موده یې په پیښور کې تیره کړه، د «آزاد افغانستان» په نامه یې یوه جریده خپروله. وروسته بیا د ځینو سیاسي ملحوظاتو له مخې هغه مجبور شو چې له پیښوره ووځي، نو هماغه و چې کراچۍ ته ولاړ په علمي او ادبي

فعالیتونو بوخت شو. پر ۱۳٤۰ هجري لمریز (۱۹٦۱م) کال ورته دې زمینه برابره شوه چې خپل هیواد ته ولاړ شي او د پخوا په څیر په خپلو علمي او فرهنگي چارو بوخت شي. پر ۱۳٤۱ هجري لمریز (۱۹٦۲م) کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د استاد په توگه مقرر او په ۱۳٤٤ هجري لمریز (۱۹٦٦م) کال یې د خپلو علمي، تاریخي او ادبی آثارو په وړاندې کولو سره وکړای شول چې د «پوهاند» علمي رتبه ترلاسه کړي.

علامه پوهاند حبیبي پر ۱۳٤٥ هجری لمریز (۱۹٦۷م) کال د افغانستان دتاریخ ټولنې (انجمن) د رئیس په توگه مقرر شو او دغسي یې له دې لارې د افغانستان تاریخ ته د قدر وړ خدمتونه وکړل. پر ۱۳٥۱ هجري لمریز (۱۹۷۳م) کال د صدراعظم د فرهنگي مشاورپه توگه وټاکل شو. د خپل عمر په وروستۍ لسیزه کې چې له رسمي دولتي وظیفې څخه یې تقاعد هم کړی و، په کابل پوهنتون کې د استاد، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مشاور، د افغانستان د علومو د اکاډیمي د غړي او ددې ترڅنگ په خپلو علمي، تاریخي او ادبي څېړنیزو کارونو بوخت و.

علامه پوهاند عبدالحی حبیبي (٥٦) کاله د هیواد په علمي او فرهنگي ادارو کې د علم او فرهنگ خدمت کړی دی. په دغه موده کې یې ډیرې ادبي، علمي، تاریخي، جغرافیوي او ... څېړنې کړي دي چې ځینې یې د ځانگړو کتابونو په بڼه او زیات شمیر یې د مقالو په شکل د هیواد د خپرونو له لارې خپرې شوې دي. په ډیر و ملي او نړیوالو علمي، ادبي، تاریخي غونډو او سیمینارونو کې یې فعالانه برخه اخیستې، د هیواد ډیرو علمي، ادبي او فرهنگي مؤسسو، ادارو او ټولنو په جوړیدو، ودې او پرمختگ یې اغیزمنه برخه لرلې ده. زیات شمیر لیکوالان، شاعران، د ادب او تاریخ څیړونکي د دوی په مستقیمه لارښوونه، هڅونه او پاملرنه او یا هم د دوی د آثارو او افکارو په لوستلو روزل شوي دي.

علامه حبیبي شاعر هم و، په پښتو او دري ژبو یې د شعرونو چاپ شوې بیلگې

شته، خو زیاتره پاملرنه یې علمي او څېړنیزو لیکنو ته وه. د ټولو چاپ شویو کتابو یو شمیره یې ۱۱۵ ټوکو ته رسېږي، چې هر یو یې په خپل ځای زیات علمي، ادبي او تاریخي ارزښت لري. موږ دلته د هغو له جملې څخه د ځینو نومونه اخلو:

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ (۱-۲ ټوک) (۲) افغانستان بعد از اسلام (لومړي ټوک) (۳) تاریخچۀ ادبیات پښتو (٤) پښتانه شعراء (لومړی ټوک) (۵) تاریخ افغانستان در عصر تیموریان (٦) نومور کي مؤرخین (۷) جنبش مشروطیت در افغانستان (۸) تاریخ مختصر افغانستان (۹) رهنمای تاریخ افغانستان (۱۰) تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان (۱۱) جغرافیای تاریخی افغانستان (۱۲) زبان دو هزار ساله افغانستان یا مادر زبان دری (۱۳) پښتو نثر ته کره کتنې (۱٤) د پښتو د نوي ادب لارې (۱۵) د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده (۱٦) روابط ادبی سند با افغانستان (۱۷) پښتو و لویکان غزنه (۱۸) د افغانستان پیښلیک (۱۹) هنر عصر تیموریان (۲۰) نسب و زادگاه سید جمال الدین افغان او نور.

بالاخره دغه پیاوړی مؤرخ، منلی ادیب او د علم او فرهنګ ربښتینی خدمتګار د ۱۳٦۳ هجري لمریز (۱۹۸٤م) کال د ثور د میاشتې په شلمه نیټه وفات او د کابل په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو.

مأخذونه: ( د محقق سید محی الدین هاشمي د افغانستان شاعر لومړی ټوک څخه اقتباس )

(۱) بینوا، عبدالرؤف، اوسنی لیکوال، لومړی ټوک ۱۳٤۰ هـ ش کال ۲۲٤-۲۳۱ مخونه.

(۲) هارون خپل، آفریده های مهجور علامه حبیبی، د افغانستان د علومو اکاډیمي، ۱۳٦۷ هـ ش کال.

(۳) د استاد یاد، (د سیمینار مقالو مجموعه) ۱۳٦٤ هـ ش کال.